لوړو زده کړو وزارت

ننګرهار پوهنتون

حقوق او سیاسي علومو پوهنځی

قضا او څارنوالۍ څانګه

جزا او جنايي علومو ډیپارتمنټ

# د څارنوالۍ پیژندنه او اوسنې وضعیت ته یې کتنه

## ( د لسانس دورې پایلیک)

Ketabton.com

**ترتیب کوونکی: سمیع الله (ساحل)**

**لارښود استاد: پوهنیار نور الله نوري (مجددي)**

کال.........................................................................................۱۴۴۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مننليک

د هرڅه د مخه د **الله تعالی** حمد او ثنا ادا کوم چې د انسان د ټولو چارو مرستندوی او بشپړوونکی دی.

د **خدای تعالی** شکر ګذار یم چې ما ته یې دا توفیق راکړ تر څو د لیسانس دوری د فراغت سند د تر لاسه کولو په خاطر خپل پایلیک د ( د څارنوالی پیژندنه او اوسني وضعیت ته یې کتنه) تر عنوان لاندې ترتیب او بشپړ کړم. تر څو چې قاضیان، څارنوالان، مدافع وکیلان او پولیس چې په دندو کې د څارنوالی ارګان سره مخامخ کیږي او یا د ټولنې عام وګړي چې ژوند کې راغلو جزایي ستونزو د حل لپاره څارنوالۍ ته مراجعه کوي د لا زیاتې اشنایی سبب وګرځي. همدارنګه وکولای شو. بله دا چې د څارنوالی د ارګان په اړه چې کومې پوښتنې د افغانستان اسلامي آمارت په واکمني کې د خلکو په ذهنونو کې مطرح کیږي د شرایطو مطابق د واقعیتونو په رڼا کې ځواب ووایو.

د مونوګراف د ترتیب په برخه کې چې له ما سره کومو استادانو مرسته کړې، په تیره بیا د ننګرهار پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي له ښاغلی ښوونکی پوهنیار نورالله نوري (مجددي) صیب څخه چې زما د رهنما ښوونکی هم وه ډېر زیات منندوي یم. کور یې ودان، الله دې عمر دراز ورکړي.

ما خپل مونوګراف د( د څارنوالی پیژندنه او اوسني وضعیت ته یې کتنه) تر عنوان لاندی ترتیب او منظم کړی، هیله ده چې د لوستونکو لپاره ګټور تمام شي .

په درنښت

**سمیع الله ساحل**

د ننګرهار پوهنتون د حقوقو اوسیاسي علومو پوهنځي زده کړیال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لنـــــــدیز

څارنوالی یو تحقیقي ارګان ده چې د مظنون د خلاف تورن پاته، او د تورن خلاف صورت دعوي ترتیبوي او د جزایي دعوي په ټولو مراحلو کې د ټولنې د نماینده (مدعــي العموم) په ډول د جرم د مرتکب په وړاندې د جنایي عدالت د غوره تامین په موخه دعوي مخ ته وړي.

څارنوالي اهمیت دا ده چې په دولت یو مهم ارګان ده چې هم د دولت له حقوقو د متهم په وړاندې او هم د متهم حقوق د دولت په وړاندې حمایه کوي. څارنوالی له لدې کبله اهمیت لري چې دعوو ته په ښه شکل سره د رسیدګي لپاره یوائینې لار د څارنوالي د ارګان شتون ده. بل دا چې څارنوالی هغه بنسټ ده چې د جزایي دعوي په دریو ګونو مرحلو او تجدید نظر کې رول لري نو له اهمیت څخه خالي نده چې وڅیړل شي. څارنوالی په ټولنه کې جنایي عدالت تامینوي، د څارنوالی په شتون سره د مظلومانو حقوق تامینږي.

د څارنوالی هدف دا ده چې د جزایي دعوي اړوند حقیقي او ریښتینې تحقیق ترسره کړي.د څارنوالی په تشکیل او ترکیب پورې د ټولو چارو ترسره کړي. همدارنګه په محکمه کې د تورن په خلاف د جزایي دعوي اقامه کړي او د مظنون او متهم خلاف د تورن لیک یا اتهامنامې او صورت دعوي ترتیب کړي.

څارنوالی داساسي دندې عبارت دي له؛ د ټولو جرمونو څیړل او د جزایي دعوې اقامه او په محکمه کې د تورن په خلاف د هغو تعقیبول او همدارنګه د جرم د تحقیق او د محکمو د قطعي حکمونو د تنفیذ د بهیر او د ازادي د سلب ځایونو څارنه کول.

د افغانستان اسلامي جهوري دولت د څارنوالی د واک او تشکیل قانون (۶) ماده وایي چې د څارنوالی اداره له درېیو برخو جوړه څخه جوړه شوي ده.د ستري محکمې څارنوالی، د استیناف محکمې څارنوالی ګانې او د ابتدائیه محکمې څارنوالی ګانې.د څارنوالي ارګان یو مشروع ارګان ده چې په اسلامي شریعت او د افغانستان په ټولو قوانینو کې مشروعیت ثابت ده او ځانګړي بابونه او قوانین په دې اړه وضع شوي دي.

د څارنوالي دنده د ټولو جرمونو څیړل او د جزایي دعوې اقامه او په محکمه کې د تورن په خلاف د هغو تعقیبول دی همدارنګه د جرم د تحقیق او د محکمو د قطعي حکمونو د تنفیذ د بهیر او د ازادي د سلب ځایونو څارنه کول دي. د څارنوالي موخې د د قانون د ټینګښت او د عدالت د تامینولوپه منظور، د فردي او عامه حقوقو او ازادیو ساتنه کول او د څارنوالی د اداري د څارنوالانو او ملکي خدمتونو د کارکوونکو د ذاتي چارو تنظیمول دي چې داسې نورې ډیري ګڼې موخې هم لري.

همدارنګه اړوند بله مهمه موضوع څارنوال ده چې څارنوال هغه شخص ته ویل کیږي چې د حکومت لخوا د قانون مساویانه پلي کولو د موخې لپاره ګومارل شوي وي یا هغه حقیقي شخص ده چې د شکمن او تورن خلاف د تورن لیک د ترتیب شروع بیا په دریو ګونو محکمو کې د تورن خلاف صورت دعوي مخې ته وړي.عموماً څارنوالان په دوه ډوله دي، لمړي مستنطق چې د تحقیق څارنوال هم ورته ویل کیږي. او دوهم د تعقیب څارنوال څخه عبارت ده. خو ولې په کل کې دواړه د لوې څارنوالی کدرغړي پیژندل کیږي، او د مساوي حقوقو او امتیازاتو څخه برخمن دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د موضوعاتو لړ لیک

سـریزه......................................................................................................ه
د څیړنې اهمیت ..........................................................................................و
د څیړنې ستونزه..........................................................................................و
د څیړنې موخې...........................................................................................و
د څیړنې پوښتنې.........................................................................................ز
د څیړنې د اختیار لاملونه...............................................................................ز
د څیړنې کړنلاره.........................................................................................ح

## لمړی فصل

## د څارنوالي پیژندنه

لمړی مبحث: د څارنوالۍ پیژندنه.....................................................................1
لمړی مطلب: لغوي تعریف.............................................................................1
دوهم مطلب: اصطلاحي تعریف.........................................................................1
دوهم مبحث: د څارنوالۍ د بنسټ مشروعیت.....................................................2
لمړی مطلب: د اسلامي شرعیت له نظره د څارنوالي مشروعیت..................................2
دوهم مطلب: د قانون له نظره د څارنوالۍ مشروعیت...........................................3
درېیم مبحث: د څارنوالۍ موخې.....................................................................3
څلورم مبحث: د څارنوالۍ دندې.....................................................................4
پنځم مبحث: د افغانستان د څارنوالۍ تشکیل.....................................................4
لمړی مطلب: د سترې محکمې څارنوالي............................................................4
دوهم مطلب: د استیناف څارنوالي....................................................................5
درېیم مطلب: ابتداییه څارنوالي.......................................................................6
څلورم مطلب: د څارنوالي د عالي شورا دندې...................................................7
پنځم مطلب: د لوی څارنوال دندې....................................................................7
شپږم مطلب: د څارنوالي د اداري د مرستیالانو دندې او واکونه.............................8

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم مبحث: د څارنوال پیژندنه........................................................................8
لمړی مطلب: د تحقیق څارنوال پیژندنه.............................................................9
دوهم مطلب: د قضایي تعقیب څارنوال پیژندنه...............................................10
دریم مطلب: د څارنوالانو دندې.........................................................................10
څلورم مطلب: د څارنوالانود استخدام شرایط....................................................10
پنځم مطلب: د څارنوال صلاحیتونه.................................................................11
شپږم مطلب: د څارنوال اړوند پرنسیپونه...........................................................11
اوو مطلب: د څارنوال مکلفیتونه........................................................................12
اووم مبحث: د څارنوالي تاریخي بهیر د افغانستان په قوانینو کې.........................15

## دوهم څپرکی

## د څارنوالي څرنګوالی په مختلفو محاکماتي سیستمونو کې

لومړی مبحث: په اتهامي محاکماتي سیستم کې د څارنوالي څرنګوالی......................21
لومړی مطلب: د اتهامي محاکماتي سیستم ځانګړتیاوې.......................................21
دویم مبحث: په تفتیشي محاکماتي سیستم کې د څارنوالي څرنګوالی.......................22
لومړی مطلب: د تفتیشي محاکماتي سیستم ځانګړتیاوې......................................22
دریم مبحث: په مختلط محاکماتي سیستم کې د څارنوالي څرنګوالی.......................23
لومړی مطلب: د مختلط محاکماتي سیستم ځانګړتیاوې.......................................23
څلورم مبحث: په اسلامي محاکماتي سیستم کې د څارنوالي څرنګوالی......................24
لومړی مطلب: د اسلامي محاکماتي سیستم ځانګړتیاوې......................................27

## دریم څپرکی

## د څارنوالي اوسنې وضعیت ته کتنه

د څارنوالي اوسني وضعیت ته کتنه..................................................................29
پایله.......................................................................................................32
وړاندیزونه..............................................................................................33
ماخذونه.................................................................................................34

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ســــــریـزه

الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور انفسنا. من يهده الله، فلا مضل له، و من يضلل فلا هادي له، اشهد ان لا اله الا الله، واشهد ان محمد عبده ورسوله. و قال الله تعالی'

«يأَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِن جَآءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبإٍ فَتَبَيَّنُواْ أَن تُصِيبُواْ قَوْماً بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُواْ عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ»[1]

ژباړه: اې مومنانو که کوم فاسق تاسو ته له کوم خبر سره راشي، نو تاسې د (خبره په اړه) پلټنه وکړئ، هسې نه چې کومې ډلې ته په ناپوهۍ سره ضرر ورسوي او بيا په خپلو کړو پښيمانه شئ.

دا چې انسان ټولنيز مخلوق ده او ټولنيز ژوند ته اړتيا لري چې پرته له ټولنې يې ژوند نيمګړی او حتی ناممکن ده، نو د ژوند د چارو، حقوقو او مصالحو ساتنې لپاره يې په ټولنه کې داسې قواو ته اړتيا پيداکيږي چې مقاومې او له ځان سره اجرايوي ضمانت ولري، تر څو د دوي ګټې خوندي کړای شي. نو د دې تشې د ډکولو لپاره لمړی اجرايوي ځواک او بيا قضا او د قانون جوړونې مهمې قواوې دي تر څو د دوي حقوق خوندې کړای شي. نو دا دي په دې بحث کې د اجراييه قوې او په ځينو هيوادنو کې د قضايه قوې يو ډول چې څارنوالي بلل شوي ده څيړل شوي ده. دا داسې ارګان ده چې د افرادو، ټولنو، قومونو او دولتونو حقوق او اړتياوي ور پورې تړلي دي. خلک د څارنوالي په برخه کې سره با تعادله دي، يا په بله معنی دلته دوه اړخونه دی چې څارنوال او عدالت غوښتونکی متهم او هر يو له دوي څخه د څارنوالی پيژندنې ته اړتيا لري، چې څارنوال تحقيق، دعوي د اقامې طريقې او کيفيت پيژندنې ته اړيتا لري او متهم د تحقيق ورکول او يا ځواب ورکول اصولو او هغه څه چې په ده باندې لازم دي چې اجرا يې کړي او ترې امتناع وکړي پيژندلو ته اړ دی، نو ددې لپاره چې د څارنوالی په شرعي قانوني حيثيت او همدارنګه د څارنوالی اوسنې وضعيت، فعاليت، دندو او اجرااتو باندې پوه شو له علمي او عملي نظره يې اهميت بيانوو.

زمونږ ددې ليکنې څخه هدف د څارنوالۍ او څارنوال اړوند معلومات او په نړۍ کې جزايي قضيو ته مختلفو محاکماتي سيتمونو کې د څارنوالي د فعاليت او موقف واضح کول او د څارنوالۍ د ځايګاه تثبيت کول دي. همدارنګه ددې ليکنې په ترڅ کې په افغانستان کې د څارنوالۍ تاريخي رول باندې رڼا اچولو سربيره د افغانستان آسلامي آمارت دويمه دوره کې د څارنوالۍ په فعاليت رڼا اچول او د څارنوالۍ وضعيت روښانه کول دي. او هغو پوښتنو ته ځواب ورکول کومې چې د ټولنې عامو وګړو، قاضيانو، څارنوالانو او پوليسو په ذهنونو کې د څارنوالۍ د ارګان اړوند ګرځي را ګرځي. اړوند پايليک مو په دريو فصلونو

---

1. قرآن کريم، [الحجرات،اية ۶]

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندې ویشلې ده چې په لمړي فصل کې څارنوالۍ پیژنده، په دویم فصل کې د څارنوالۍ رول په مختلفو محاکماتي سیستمونو کې او په دریم فصل کې د څارنوالۍ اوسنې وضعیت ته کتنې باندې بحث شوی.

## الف ـ د څیړنې اهمیت

ددې څیړنې اهمیت په لاندې نقاطو کې بیانولی شو:

۱-دا چې انسان یو ټولنیز مخلوق ده او پرته له ټولنې ژوند ژوند ممکن نده نو دا اړینه موضوع ده چې د انسانانو ترمنځ شخړي او منازعات یو داسې قانون یا چوکاټ په اساس وڅیړل شي چې د دوي د غوښتنو مطابق وي چې دغه دنده څارنوالي ترسره کوي.

۲- بل دا چې څارنوالۍ هغه بنسټ ده چې د جزایي دعوي په درې ګونو مرحلو او تجدید نظر کې رول لري نو له اهمیت څخه خالي نده چې وڅیړل شي.

۳-څارنوالۍ په ټولنه کې جنایي عدالت تامینوي، د څارنوالۍ په شتون سره د مظلومانو حقوق تامینږي.

۴- لدې کبله د څارنوالۍ موضوع اهمیت لري چې د شخص د مجرمیت او عدم مجرمیت سرنوشت ټاکل کیږي.

۵-څارنوالۍ د تورن پر وړاندې د دولت له حقوقو تامین او دفاع کوي همدارنګه د دولت پر وړاندې د تورن حقوق تامینوي.

## ب- د څیړنې ستونزه

دا چې د افغانستان سیاسي نظام له جمهوریت څخه آمارت ته واوښت، نو ټولو حقوقي ادارو کې ګڼ شمیر تغیرات راغلل چې د څارنوالۍ ارګان هم ترې مستثنا نه وه. نو ومو غوښتل چې د څارنوالۍ تشکیل او د فعالیت ډول یې د اسلامي امارت په دوره کې وڅیړو او هغو پوښتنو ته ځواب ووایو کوم چې اوسمهال د څارنوال اړوند شتون لری.

## ج ـ د څیړنې موخې

ددې څیړنې موخې عبارت دې له:

۱- د څارنوالۍ د واقعي معنا او مفهوم تثبیت او تشخیص کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- قاضیانو، څارنوالانو، مدافع وکیلانو او پولیسو د څارنوالی سره لا ډیر اشنايي کول.

۳- د څارنوالی د ارګان د عملي کړنو او قانوني موادو برسي کول او ښودل چې تر کومې کچې پورې قانون تطبیق کیږي.

۴- دا ثابتول چې ایا څارنوالۍ په عمل کې د قانوني ښودل شوي استقلال سره سم استقلال لري او کنه؟

۵- د لیسانس دوري د فراغت سند د تر لاسه کولو لپاره تر څو يې له امتیازاتو څخه برخمن شي.

۶- د ټولو هغو پوښتنو ځواب کول چې اوسمهال د څارنوالۍ د ارګان اړوند شتون لري.

## د. د څیړنې اړوند پوښتنې

په دې څیړنې پورې اړوند لاندې پوښتنې ځواب کیږي لکه:

۱- د یو نظام او حکومت په اډانه کې د څارنوالی د شتون څه اهمیت لري؟

۲- آیا اوس مهال څارنوالی اداره د افغانستان اسلامی امارت په اساسی تشکیلاتو کې ځای لری؟

۳- د اسلام له نظره څارنوالي او فعالیت يې د یو نظام په عدلي سکتور کې شرعی جواز لری؟

۴- دمګړی د تحقیق، قضائی تعقیب او د حکم تنفیذ څخه نظارت چې د څارنوالی له بنسټیزو دنده او واکونو څخه وه د چا او کومې ادارې لخوا تر سره کیږی؟

۵- د لوی څارنوالی تشکیل په څه ډول دی. کومې مرستیالۍ او ریاستونه تشکیل کې لري؟

## ه- څیړنې د اختیار لاملونه:

۱-ددې موضوع روښانه کول چې د څارنوالۍ ارګان د کومو موخو د تعقیب او تر لاسه کولو لپاره جوړ شوي ده؟ او آیا دغه موخې په عمل کې تر لاسه کیږي او کنه؟

۲-ددې موضوع روښانه کول چې آیا اوس مهال(د افغانستان اسلامي امارت دویمه دوره) کې د څارنوالي ارګان شتون لري او کنه؟ او آیا عملاً فعالیت ترسره کوي؟

۳-او همدارنګه دا په ګوته کول چې آیا څارنوالي خپل استقلالیت ساتلی ده او کنه؟ که ساتلی ده نو تر کومې کچې پورې استقلالیت ساتلی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## و- د څېړنې کړنلاره

ددې لپاره چې زمونږد پايليک عنوان د (ځارنوالۍ پيژندنه او اوسنې وضعيت ته يې کتنه) ده، نو اړونده عنوان په دوه برخو ويشل شوي ده، چې لمړي برخه يې د ځارنوالۍ پيژندنه ده. نو پدې برخه کې د څېړنې غوښتنه دا وه چې بايد کتابتوني او تحليلي ميتود څخه استفاده وشي. ځکه چې د ځارنوالۍ په اړه ډېر مواد په کتابونو، قوانينو او نورو ليکلو اثارو کې شتون لري. همدارنګه د ځارنوالي پيژندنې په برخه کې مو د قران کريم له مبارکو ايتونو او نبوي احاديثو څخه د څېړنې د غښتلتيا لپاره استفاده کړې ده. د پايليک د عنوان دوهمه برخه د ځارنوالۍ اوسنې وضعيت ته کتنه ده، نو دې برخې ميداني څېړنې ته اړتيا درلوده نو مونږ هم پدې برخه کې ميداني څېرنه ترسره کړې ده، چې ځارنوالانو، قاضيانو او اړونده برخه کې د مسؤلو اشخاصو سره د مرکې له لارې او د ټولپوښتنو له لارې مو اړوند معلومات تر لاسه کړي دي.

۱-ددې لپاره چې د نوموړي موضوع ښه روښانه شي او د لوستونکو د لا ښه فهم وړ وګرځي په اړينو فصلونو،مبحثونو،جزونو او فقرو باندې ويشل شوي ده.

۲-ليکنه د هغه د اصلي ماخذونو او منابعو سره ذکر شوې ده.

۳-د ماخذونوليست د کتاب سبز يا شين کتاب په ميتود ترتيب شوې ده.

۴-په څېرنه کې د کتابتوني او تحليلي ميتود څخه استفاده شوې ده.ځکه د ځارنوالۍ په اړه ډېر مواد په کتابونو،مجلو، قوانينو او نورو ليکلو اثارو کې شتون لري.

۵- همدارنګه د مسؤلو اشخاصو سره د مرکو له لارې مو د ځارنوالۍ اوسنې وضعيت په اړه معلومات ترلاسه کړي دي.

۶- په موضوع کې مو هغه اصطلاحات چې پيژندلو ته يې اړتيا درلوده، لنډه پيژندنه يې د هماغه صفحې په لمن ليک کې د ماخذ په ذکر کولو سره واضح شوې ده.

۷- د ليکنې پر مهال که له کومې سنې څخه يادونه شوې هغه مو ددغه () قوسونو په منځ کې ليکلې ده.

۸- د قوانينو مادې مو د دغه«» قوسونو په منځ کې ليکلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لمــــړی څــــپرکی

## د څــــــارنوالي پیــــژندنه

دا فصل مو په اوو مبحثونو باندې ویشلي ده چې لمړي مبحث کې د څارنوالۍ پیژندنه، په دویم مبحث کې د څارنوالۍ مشروعیت، دریېم مبحث کې د څارنوالۍ موخې، څلورم مبحث کې د څارنوالۍ دندې، پنځم مبحث کې د افغانستان د څارنوالۍ تشکیل ، شپږم څارنوال پیژندنه، اووم مبحث کې د څارنوالۍ تاریخې بهیر د افغانستان په قوانینو کې در پیژنو.

### لمړی مبحث: د څارنوالۍ پیژندنه

**لمړی مطلب- لغوي تعریف:** څارنوالۍ د فارسي کلیمې له دادستان سره مشابه یوه پښتو کله ده،[2]چې د څارني څخه اخیستل شوي ده چې په دري ژبه کې د نظارت، لیدني، تدقیق او پلټني ته ویل کیږی.[3]

د عربي ژبې په قانوني اصطلاح کې څارنوالۍ ته (النیابته العامه) او په عامه معنی ورته مکتب المدعي العام ویل کیږي.

د انګلیسي ژبې معادل مفهوم یې (The Department of the Public Prosecution) دی او په ایراني فارسي ژبه کې څارنوالۍ ته دادستان ویل کیږي.

**دوهم مطلب - اصطلاحي تعریف:** اصطلاحاً څارنوالۍ ته د تحقیق دیوان ویل کیږي، چې عبارت له هغه ارګان څخه ده چې د چارواکو، واکمنانو، دولتي کسانو او همدارنګه د عامه خلکو پر فعالیتونو باندې څارنه کوي تر څو د قانون له حکمونو او شریعت څخه سرغړونه ونه وکړي.

د افغانسان اسلامي جمهوري دولت د ۱۳۸۲ هـ کال د اساسي قانون د (۱۳۴) مادې دویمې فقرې څارنوالۍ داسې تعریف کړي ده:[4]

(څارنوالۍ د اجرائیه قوې یوه برخه ده چې په خپلو اجرااتو کې استقلالیت لري، تشکیل، صلاحیت او د اجرااتو څرنګوالۍ د قانون له لورې تنظیم کیږي.)

څارنوالۍ یو تحقیقي ارګان ده چې د مظنون د خلاف تورن پانه، او د تورن خلاف صورت دعوي ترتیبوي او د جزایي دعوي په ټولو مراحلو کې د ټولني د نماینده (مدعـي العموم) په ډول د جرم د مرتکب په وړاندې د جنایي عدالت د غوره تامین په موخه دعوي مخ ته وړي.

---

2.عمید حسن (۱۳۸۵).فرهنګ عمید فارسي، موسسه انتشارات کبیر،تهران میدان استقلال،جلد اول،ص ۵۰۹.

3.دادستان قایمونکی یا دا چې د یو حق له بل جانب څخه واخلي په اصطلاح کې دادګستري عبارت دي د دولت له نمایندګي څخه په قضا کې د مجرمینو په وړاندې چې دعوي لیک وړاندې کوي.

4.د افغانستان اساسي قانون(۱۳۸۲).۸۱۸ رسمي جریده،۱۳۴ ماده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوهم مبحث: د څارنوالی بنسټ مشروعیت

### لمړي مطلب: د اسلامي شریعت له نظره د څارنوالۍ مشروعیت

د څارنوالۍ مشروعیت د قرآن کریم مبارکو ایتونو او نبوي احادیثو څخه ثابت ده چې په لاندې ډول پرې رڼا اچوو:

الله تعالي د قرآن کریم سورت الحجرات شپږم نمبر ایت مبارک کې فرمایلي دي:

«يأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِن جَآءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُواْ أَن تُصِيبُواْ قَوْماً بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُواْ عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ»[5]

ژباړه: اې مومنانوکه کوم فاسق تاسو ته له کوم خبر سره راشي، نو تاسې د (خبره په اړه) پلټنه وکړئ، هسې نه چې کومې ډلې ته په ناپوهی سره ضرر ورسوي او بیا په خپلو کړو پښیمانه شئ.

همدارنګه سردار کونین حضرت رسول اکرم (ص) فرمایي:(التثبت من الله و العجلت من الشیطان).

ژباړه: تثبیت او د یوې خبرې څیړنه د الله تعالي حکم ده او عجله کول د شیطان امر ده.

همدارنګه فقهي قاعده وجود لري چې وايی:

(فواجب التمحیص و المحص التمیز الظن الباطل من الظن الصادق).

ژباړه: د باطل یعني دروغجن او صادق ګمان یا ظن تر منځ توپیر کول واجب دي.

که چیرې اسلامي تعلیمات او تاریخ مطالعه کړو نو نو د څارنوالی بنسټ پورې اړوند فعالیتونه په اندول ډیرې قضایاوي تر سترګو کیږي، چې د اسلامي تاریخ بنسټ ایښودونکو او د وخت نومیالیو چارواکو د څارنوالي نوم په تفکیک سره اړوندې چارې په لا مثاله بڼه ترسره کړي دي چې ځینې بیلګې په لاندې ډول سره ذکر کوو.

هغه څوک چې په لمړي ځل لپاره یې په اسلامي دولت کې د ولایت المظالم اوسنې څارنوالۍ ته ورته ارګان فعالیتونه ترسره کړي دي، هغه حضرت محمد مصطفي (ص) وه. کله چې د حذیفي قبیلي خلک د مسلمانانو د سپه سالار خالد بن ولید (رض) ته تسلیم شول، نو ځینې خلک د خالد بن ولید د کورنۍ لخوا ووژل شول نو رسول الله (ص) د حذیفي قبیلې د خلکو د حقوقو د دفاع په خاطر باندې او د مختل شوي نظم د بیا اعادې لپاره د وژل شویو کسانو په سر د حذیفي قبیلې ته دیت ورکړ.

کله چې د حضرت عمر فاروق(رض) د خلافت دوره شروع شو، نو د نن ورځې حقیقي او واقعي مسولیت شناس او سالم وجدان لرونکي څارنوال اړوند فعالیتونو بیلګي شتون لري. کله چې د قبطي زوي او د مصر د والي د زوي عمرو بن العاص ترمنځ مسابقه ترسره کیږي چې په پاي کې د مصر د والي زوي عمرو بن العاص شکست خوري، نو په نتیجه کې د عمرو بن العاص د قبطي د زوي په وهلو او ټکولو باندې پیل کوي او هغه ته پیغور ورکوي، نو هر کله چې د حج د فریضې د مراسم ادا کولو ورځې راځي نو د قطبي زوی یاده قضیه حضرت عمر فاروق (رض) ته کوي او له هغه څخه شکایت کوي چې حضرت عمر فاروق(رض) عمرو بن العاس را غواړي او په عام محضر کې قصاص کوي.

همدارنګه د امویانو په دوره کې د عبدالمالک بن مروان زوي د مظلومانو د شکایتونو اوریدلو لپاره ځانګړي ورځ منتخب کړي وه، او د شکایتونو د رسیدنې او څیړنې لپاره به عملي اقدام کاوه. چې ښه بیلګه یې عمر بن عبدالعزیز(رح) وه. حضرت عمر بن عبدالعزیز(رح) د عدالت د ټینګښت لپاره د بنې

---

[5].قرآن کریم، [الحجرات،ایة ۶]

(c) ketabton.com: The Digital Library

امیه په نوم قبیلې په وړاندې داسې مبارزه وکړه چې د مالونو په برخه (بیت المال) کې د یادې قبیلې له خوا غیر مشروع ګټې اخیستنې په مقابل کې کلک ودریده او د هغوي له لورې اخیستل شوي مالونه بیرته اخذ او خزانې ته مسترد کړل او تر څنګ دوي خزانې ته د مالیاتو په ورکړې باندې مکلف وګرځول. چې د وخت غوره عدالت ټینګښت په سبب عمر بن عبدالعزیز(رح) ته د عمر ثاني لقب ورکړل شو. او د پنځم خلیفه په نوم هم یادیږي.

نوټ: د اسلام له نظره د څارنوالۍ مشروعیت په اړه مکمل بحث د اسلام په محاکماتي نظام کې ترسره شوي ده. چې په دویم څپرکي کې شتون لري.

**دوهم مطلب: د قانون له نظره د څارنوالۍ مشروعیت**

د افغانسان اسلامي جمهوري دولت  د ۱۳۸۲ هـ کال د اساسي قانون د (۱۳۴) مادې دویمې فقرې څارنوالۍ داسې تعریف کړي ده:

څارنوالۍ د اجرائیه قوې یوه برخه ده چې په خپلو اجرااتو کې استقلالیت لري، تشکیل، صلاحیت او د اجرااتو څرنګوالۍ د قانون له لورې تنظیم کیږي.[6]

څارنوالۍ د اجراییه قوی یوه برخه ده، چې په خپلو اجراآتو کې خپلواکه او د قانون د حکمونو تابع ده، چې اساسي دندې یې عبارت دې له: لمړی د ټولو جرمونو تحقیق، د جزایي دعوي اقامه او په محکمه کې د تورن پر خلاف د هغه د دوسیې تعقیبول، دویم د جرم د تحقیق او د محکمو قطعي حکمونو د تنفیذ د بهیر او د ازادۍ د سلب د ځایونو څارنه.[7]

## درېیم مبحث: د څارنوالۍ موخې

د څارنوالۍ موخې عبارت دې له:

۱-د جزایي دعوي اړوند حقیقي او ریښتینې تحقیق ترسره کول.

۲-د څارنوالۍ په تشکیل او ترکیب پورې د ټرلو چارو ترسره کول.

۳-په محکمه کې د تورن په خلاف د جزایي دعوي اقامه کول.

۴-د جزایي دعوي په برسې کې د خنډ او ځنډ مخنیوی کول.

۵-د مظنون او متهم خلاف د تورن لیک یا اتهامنامې او صورت دعوي ترتیب کول.

۶-د جزا تطبیق، محابسو او توقیف ځایونو څخه څارنه او نظارت تر سره کول.[8]

همدارنګه د افغانستان تیر اسلامي جمهوري دولت د څارنوالۍ د واک او تشکیل قانون ۲ ماده د څارنوالۍ د موخو په اړه داسې صراحت لري[9]

۱-د څارنوالۍ په تشکیل پورې د اړوندو چارو تنظیمول.

---

[6]. (۴) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي،د افغانستان اساسي قانون،۱۳۴ ماده.

[7]. د افغانستان د څارنوالي د واک او تشکیل قانون(۱۳۹۲).۸۴۳ رسمي جریده، ۳ ماده.

[8]. اخلاق حقوقي در عمل (اخلاق و سلوک مسلکي).تمویل کننده:اداره حاکمیت قانون و مبارزه با مواد مخدر بین المللي، وزرات خارجه امریکا(INL)و تطبیق کننده،بنیاد آسیا،ص ۱۴۵.

[9]. (۷) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي، د څارنوالۍ د واک او تشکیل قانون، ۲ ماده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲-د څارنوالی په واکونو او دندو پورې د اړوندو چارو تنظیمول.

۳-د قانون د ټینګښت او د عدالت د تامینولوپه منظور، د فردي او عامه حقوقو او ازادیو ساتنه کول.

۴-د څارنوالی د اداري د څارنوالانو او ملکي خدمتونو د کارکوونکو د ذاتي چارو تنظیمول.

۵-د څارنوالانو په جزایي او تادیبي مسولیت پورې د اړوندو چارو تنظیمول.

## څلورم مبحث: د څارنوالی دنـدې

پدې هکله د څارنوالی د واک او تشکیل قانون (۳) ماده د څارنوالی د اساسي دندو په اړه په لاندې ډول صراحت لري، چې اساسي دندې عبارت دې له:[10]

۱-د ټولو جرمونو څیړل او د جزایي دعوې اقامه او په محکمه کې د تورن په خلاف د هغو تعقیبول.

۲-د جرم د تحقیق او د محکمو د قطعي حکمونو د تنفیذ د بهیر او د ازادي د سلب ځایونو څارنه کول.

## پنځم مبحث: د افغانستان د څارنوالی تشکیل

د مرکزي څارنوالي ادراي (لوی څارنوالي) تشکیلات عبارت دې له: لوی څارنوال، څلور مرستیالي اداري د(جرایمو تحقیق، قضایي تعقیب، اداري او عسکري) امورو کې، په مختلفو امورو کې پنځلس ریاستونه، د مشاورینو بورد او عالي شورا څخه عبارت دي. څارنوالي ادره د کارونو د ښه تنظیم او غوره اجرااتو لپاره عالی شورا د لوی څارنوال تر ریاست لاندې، مرستیالان او د ۱۵ ګونو ریاستونو رئیسان لري.[11]

پدې اړه د افغانستان تیر اسلامي جهوري دولت د څارنوالی د واک او تشکیل قانون (۶) ماده په لاندې ډول صراحت لري:[12]

د څارنوالی اداره له لاندې برخو جوړه ده:

۱-د سترې محکمې څارنوالی.

۲-د استیناف محکمې څارنوالی ګانې.

۳-د ابتدائیه محکمې څارنوالی ګانې.

### لمړی مطلب: د سترې محکمې څارنوالی

دغه څارنوالی د اداري په مرکز کې فعالیت کوي چې د څارنوالی د واک او تشکیل قانون د (۶) مادې پر بنسټ منځ ته راغلې ده. د سترې محکمې څارنوالی د لاندې برخو لرونکې ده:[13]

۱ـ د عمومي جزاء څارنوالی.

---

[10]. پورتني ماخذ،د څارنوالی د واک او تشکیل قانون، ۳ ماده.

[11]. IL_F بنیاد بین المللی حقوقی افغانستان (۱۳۹۷).مباحث عمومی وکالت دفاع برای کلینیک های حقوقی بنیاد،دیپارتمنت تعلیمات بین المللی حقوقی،کابل،ص ۱۴۵.

[12]. (۷) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي ، د څارنوالی د واک او تشکیل قانون، ۶ ماده.

[13]. (۷) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي ، د څارنوالی د واک او تشکیل قانون، ۲ ماده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ـ د عامه امنیت په خلاف د جرمونو څارنوالی

۳ـ د کورني او بهرني امنیت په خلاف جرمونو او د ملي امنیت د منسوبینو د وظیفوي جرمونو پر خلاف څارنوالی.

۴ـ د وسله والو ځواکونو ،پولیسو، د ملي امنیت موظفینو او د عسکری تشکیلاتو لرونکو نورو ادارو وظیفوي جرمونو پر خلاف څارنوالی.

۵ـ د اداری فساد د جرمونو څارنوالی.

۶ـ دمخدره موادو او مسکراتو د جرمونو څارنوالی

۷ـ اطفالو د جرمونو څارنوالی.

**لمړي جز: د سترې محکمې د څارنوالي دندې**

د څارنوالی د اداری د تشکیل او صلاحیت د قانون د(۱۸) مادی په استناد سره د سترې محکمې د څارنوالي دندې عبارت دي له:

۱-د استیناف محکمو په پریکړو باندې اعتراض او یا فرجام غوښتنه او یا له هغه څخه انصراف

۲- د فرجام غوښتنې په مرحله کې د قضیې تعقیب او په ستره محکمه کې تجدید نظر کول

۳-د سترې محکمې د اړوند دیوانونو د قضایی مستشارانو شفاهي او تحریري پوښتنو ته معلومات او توضیحات ورکول دي.

۴- د ټولو هغو دندو ترسره کول چې د لوې څارنوال لخوا محولیږي.

**دوهم مطلب: د استیناف څارنوالی**

د هر ولایت په سطحه یوه د استیناف څارنوالی شتون لری.[14] چې خپلې دندې د قانون د حکمونو مطابق ترسره کوي. استیناف څارنوالی لاندې برخې لري:

۱ـ د جرمونو د تحقیق څارنوالی.

۲ـ د قضایی تعقیب څارنوالی

۳-د اجراآتو په تحقیق د نظارت څارنوالی، د حکمونو تنفیذ، د ازادی د سلب ځایونه.[15]

**لمړي جز: د استیناف څارنوالی دندې**

د څارنوالی د اداری د تشکیل او صلاحیت د قانون د(۲۱) مادې په استناد سره د سترې محکمې د څارنوالي دندې عبارت دي له:[16]

---

[14]. پورتني ماخذ، د څارنوالی د واک او تشکیل قانون،۱۹ ماده.
[15]. (۱۱) گنه لمنلیک ته دي مراجعه وشي،IL_F بنیاد بین المللی حقوقی افغانستان بنیاد آسیا،ص ۱۴۹.
[16]. پورتنې ماخذ،IL_F بنیاد بین المللی حقوقی افغانستان بنیاد آسیا،ص ۱۴۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱-**په اجراآتو باندې نظارت او د هر ولایت د اړوندې حوزې د تحقیق یا څارنې د مراجع په اجراآتو کې قانونیت.

۲-دابتدائیه څارنوالیو د قرار او تصمیمونو تائید یا رد، د ابتدائیه محکمې په صادر شوي حکم استیناف غوښتنه، انصراف یا ډده کول.

۳-استیناف محکمو په صادر شویو فیصلو باندې اعتراض، د قضیې څارنه کول او تعقیب په استینافي مرحله کې.

۴- د خلاص شوی متهم د توقیف غوښتنه یا د تورن کس توقیف تمدید د محاکمې په جریان کې احتیاطي تدابیرو مطالبه او غوښتنه.

۵-د مجازاتو د تنفیذ او د مالي تعویض یا بدل د تضمین په منظور.

**درېیم مطلب: د ابتدایه څارنوالی**

د ولایت په مرکز، ولسوالیو او ښاري ناحیو کې موازي له ابتدایه محکمو یا د محکمو د جزایي ابتدایي دیوانونو سره موازي د استیناف د اړوندې څارنوالی تر لاس لاندې جوړیږي، چې د لاندې برخو لرونکي ده:[17]

۱- د جرمونو د څېړنې( تحقیق ) څارنوالۍ.

۲- د قضایي څارنې( تعقیب) څارنوالۍ.

۳- د حکمونو د تنفیذ د مرجعو په اجراآتو د نظارت څارنوالۍ.

۴- د اداری کارکونکو څارنوالۍ.

**لمړي جز: د ابتدائیه څارنوالۍ دندې**

د څارنوالۍ د اداری د تشکیل او صلاحیت د قانون د(۲۷) مادې په استناد سره د ابتدائیه څارنوالي دندې عبارت دي له:[18]

ابتدائیه څارنوالۍ د ولایت د استیناف د څارنوالۍ د ریاست لاندې، دمحکمو د ټولو جزایي قضیو د جرمونو څېړنه یا تحقیق او قضایي څارنه په غاړه لري. مګر دا چې قضیه د قانون د حکم سره سم د دوي په واک اوصلاحیت کې نه وي.

[17]. پورتنې ماخذ،IL_F بنیاد بین المللی حقوقی افغانستان بنیاد آسیا،ص ۱۴۶.

[18]. (۷) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي، د څارنوالۍ د واک او تشکیل قانون، ۲۷ ماده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**څلورم مطلب - د څارنوالي د عالي شورا دندې:** د څارنوالۍ د واک او تشکیل قانون (۹) ماده د د عالي شورا دندې او واکونه روښانه کوي چې مهم عبارت دي له:[19] د لويې څارنوالي د پالیسي او کاري پلان تصویبول، د څارنوالانو د کادري او مسلکي امتیاز د درجې تثبیت او لوړول او د هغه تصویبول، د څارنوالۍ د تشکیل او کلنۍ بودیجې د طرحې تائید، د څارنوالي اداري پوړې د نورو اړوندو چارو څېړل چې لوی څارنوال يې عالی شورا ته محولوي.

**پنځم مطلب - د لوی څارنوال دندې:**

د څارنوالۍ اداري په راس کې لوی څارنوال شتون لري چې لاندې دندې پرمخ وړي:[20]

۱-په مرکز او ولایتونو کې تر لاس لاندې ادارو رهبرې او د قانون د حکمونو مطابق د هغو اجراأتو څارنه.

۲-د څارنوالۍ د اداري د عالي شورا ریاست.

۳-د قانون له حکمونو سره سم تر اغیز لاندې څارنوالوالانو او ادارو ته د اوامرو لارښونو صادرول.

۴-د قانون له حکمونو سره سم د متهمینو پر ضد د تعلیق، ممنوع الخروج، مالي او نورو احتیاطي تدابیرو نیول او د هغو رفع کول.

۵-د قانون د حکمونو مطابق د نوو دلایلو د څرګندیدو په سبب په جزایي موضوعاتو کې د محکمو پر قطعي پریکړو باندې د نوې کتنې غوښتنه.

۶- په جزایي موضوعاتو کې د سترې محکمې د دیوانونو پر قطعـي پرېکړو باندې د نوې کتنې په اړه د شورۍ د فوق العاده غونډې د جوړېدو په اړه د سترې محکمې عالي شورۍ ته د وړاندیز وړاندې کول.

۷- په جزايي قضیو او نورو موضوعګانو کې د نوې کتنې په اړه د سترې محکمې د عالي شورۍ په قضایي غونډو ـې د هغې شورۍ د غوښتنې پر بنـاء ګډون کول.

۸-- د اړتیا په صورت کې لـه یـوې څارنوالۍ څخه بلې څارنوالۍ ته د تحقیق د واک سپارل.

۹- د قانون د حکمونو مطابق د سترې محکمې عالي شوري ته په جزایي قضیو کې د محکمې د بدلولو وړاندیز.

۱۰- د څارنوالانو او نورو کـارکوونکو مقررول، تبدیلول، ترفیع، تقاعد، انفکاک او د استعفي منل او یا د قانون د حکمونو مطابق واکمنو مراجعو ته د هغو وړاندیز کول.

۱۱- د مظنونینو، متهمینو او مجرمینو د حقوقود رعایت څارنه.

۱۲- ملي شوري او عندالمطالبه جمهور رئیس ته د څارنوالۍ د اجراآتو د رپوټ وړاندې کول.

۱۳- د قانون د حکمونو مطابق د نـورو چارو سرتـه رسول.

---

19. (۱۱) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي،IL_F بنیاد بین المللی حقوقی افغانستان بنیاد آسیا،ص ۱۴۸.

20. (۷) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي، د څارنوالۍ د واک او تشکیل قانون،۱۱ ماده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**شپږم مطلب د څارنوالی د اداري د مرستالانو دندې او واکونه:**

د څارنوالی د واک او تشکیل قانون د (۱۲) مادې په استناد سره هره یوه مرستیاله ادره د مشخصو دندو لرونکې ده او د لوی څارنوال تر لاندې کار کوي.

**۱-د جرمونو د تحقیق په چارو کې د څارنوالی د اداري مرستیالی دندې او واکونه:**

د تحقیق په چارو کې مرستاله اداره یو لړ دندې په غاړه لري چې د قانون د حکمونو مطابق پرمخ وړي. دغه دندې عبارت دي له، په قانوني موده کې د تحقیق د چارو مخ ته وړل او د قانون مطابق د دندو اعمال، د متهمینو د توقیف قانوني والي په هکله د څارنوالانود تصمیم څارنه، د مظنونیو او متهمینو له بې برخلیک توب څخه مخنیوی لپاره څارنوالانو ته لارښونه کول، لوی څارنوال ته د ریپوټ وړاندې کول، لوي څارنوال ته د متهمینو د تعلیق او ممنوع الخروج حالت او نورو احتیاطي او مالي تدبیرونو وړاندیز کول.

**۲-د قضایي تعقیب چارو کې د څارنوالی د اداري مرستیالی دندې او واکونه:**

د مرکز او ولایتونو د استیناف څارنوالیو د اجرااتو رهبري او سازمانول، په پورته یادشویو څارنوالیو د ریاست د نیول شویو تصمیمونو په هکله ملاحظه او د تصمیم نیول، په پریکړو کې د قانون په تطبیق او تاویل کې د تیروتنو نشتوالي په صورت کې د استیناف محکمو او سترې محکمې پریکړو تائید په اړه تصمیم نیول، او په پریکړو کې د قانون په تطبیق او تاویل کې د تیروتنو شتوالي په صورت کې د استیناف محکمو پریکړو باندې اعتراض کول او د سترې محکمې اړوندو دیوانونو ته وړاندې کول.

**۳-په عسکري چارو کې د څارنوالی د اداري مرستیالی دندې او واکونه:**

د قانون سره سم په مرکز او ولایتونو کې د عسکري څارنوالانو او د اجرااتو رهبري، د سترې محکمې د عسکري دیوان د استیناف محکمو پریکړو په هکله تصمیم نیولو د عسکري څارنوالانو په اجرااتو کې د قانونیت د رعایتولو مراقبت، استیناف عسکري محکمو په پریکړو قناعت او یا اعتراض تصمیم، د استیناف عسکري محکمو په پریکړو اعتراض د سترې محکمې دیوان ته وړاندې کول.

**۴- د اداري مرستیالی، لاندې دندو او واکونو لرونکې دي:**

د څارنوالی د بودیجې ترتیبول، د څارنوالانو ذاتي چارو تنظیم، د څارنوالی د بودیجې تطبیقول، د څارنوالانو ستاژ دورې تنظیم، د څارنوالی د منقولو او نا منقوله شتمنیو ساتنه او مراقبت، د لوی څارنوال تر لاس لاندې ادارو د مالي او تدارکاتي خدماتو وړاندې کول، نور ریاستونه دندې د قانون مطابق ترسره کړي.

مخکې لدې چې د څارنوال اړوند نورو موضوعاتو باندې بحث وکړو په لنډ ډول په څارنوال باندې رڼا اچوو، ځکه چې د څارنوالی اړوند مهم کارونه څارنوال ترسره کوي نو د څارنوال لنډه پیژندنه کوو:

## شپږم مبحث: د څارنوال پیژندنه

څارنوال هغه شخص ته ویل کیږي چې د حکومت لخوا د قانون مساویانه پلي کولو د موخې لپاره ګومارل شوي وي. او یا هر هغه مامور چې زمونږ د هیواد د څارنوالی په مسلکي برخه کې دنده ترسره کوي څارنوال بلل کیږي.

څارنوال ته د عربي ژبې په قانوني اصطلاح کې ثابت العام یا مدعي العموم او په انګلیسي ژبه کې ورته (Public Prosecutor) وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اصطلاح کې د څارنوالۍ هر یو مسلکي کارکوونکي ته څارنوال ویل کیږي. او یا په بل عبارت هغه شخص ده چې د قانون د حکومونو سره سم د جرمونو د څیړنې او د محکمې په وړاندې د تورنو کسانو د عدلي تعقیب صلاحیت لري څارنوال بلل کیږي.

غوره تعریف داسې کولای شو چې څارنوال هغه حقیقی شخص ده چې د قانون په رڼا کې د شکمن او تورن اړوند نسبت کړای شویو جرایمو څیړنه او د ذیصلاح محکمې په وړاندې تورنو کسانو د عدلي تعقیب صلاحیت لري. او یا دا چې هغه حقیقي شخص ده چې د شکمن او تورن خلاف د تورن لیک د ترتیب شروع بیا په درې ګونو محکمو کې د تورن خلاف صورت دعوي مخې ته وړي.

څارنوال په بیلابیلو پړاوونو کې په لاندې ذکر شویو نومونو باندې یاد شوي ده:

۱-عمومي (مدعي العموم)

۲-د جرم د ثابتولو وکیل (وکیل اثبات جرم)

۳- د الله تعالی د حق مدعي(مدعي حق الله)

۴-د دعوي وکیل(وکیل دعوی)

۵-د بادشاه وکیل(وکیل بادشاه)

د جرم د ارتکاب په اړوند جزایي دعوي ته د رسیدنې په برخه کې د مختلفو قوانینو لکه د څارنوالۍ د تشکیل او واک قانون د جزایي اجرااتو موقت قانون او همدارنګه د (۱۳۹۳) کال رسمي جریده ۱۱۳۲ ګڼه جزایي اجرااتو قانون د احکامو په نظر کې نیولو سره د څارنوالۍ ارګان د اړوندو فعالیتونو د اجرا کولو ذیصلاح اشخاصو ته د مستنطق او څارنوال اصطلاح کارول شوي ده، لکه د څارنوالي د تشکیل او واک قانون په (۴۱) ماده کې همدغه اصطلاعات کارول شوي دي چې اړونده فعالیتونه یې هم سره توپیر لري پدې معنا چې په یو مطروحه جزایي دعوه کې مستنطق د تحقیق او څارنوال چې په محکمه کې د متهم د تعقیب چارې مخ په وړاندې وړي نو له دې زاویې څخه ویلای شو چې څارنوال په ۲ ډوله دي:

لمړي- مستنطق چې د تحقیق څارنوال هم ورته ویل کیږي.

دوهم- د تعقیب څارنوال چې د څارنوالي د تشکیل او واک قانون دغه اصطلاح کارولي ده.

خو ولې په کل کې دواړه د لوې څارنوالۍ کدرغړي پیژندل کیږي. او د مساوي حقوقو او امتیازاتو څخه برخمن دي. پدې مناسبت د څارنوالانو د ښه پیژندلو لپاره دواړه بیلابیل در پیژنو:

**لمړی مطلب: د تحقیق څارنوال(مستنطق)**

د تحقیق څارنوال د هغه څارنوال څخه عبارت دې چې د جرمي قضیې په اړه د مظنون څخه پلټنه او تحقیق تر سره کوي او د جرم اړوند اثار او مدارک راټولوي.[21]

د جرم د ارتکاب پر بنسټ د ټولنې د تلف شوي نظم د بیا اعادې لپاره د دولت له هغه نماینده څخه عبارت ده چې جزایي دعوي ته د رسیدنې په برخه کې د تحقیق مرحلې پورې اړوندې چارې لکه: څارنوال ته د پولیسو لخوا د محول شوې قضیې هر اړخیزه څیړنه او بیا ددې څیړنې پر بنسټ د جزایي

[21]. حفیظ الله دانش(۱۴۰۰).جزا محاکماتو اصول،کابل،نوی مستقبل خپرندویه ټولنه،ص ۹۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعوي تحريک، مظنون توقيف، د مظنون او متضر څخه تحقيقات، د اتهمنامې يا تورنليک ترتيب، د دوسيې حفظ کول او همدارنګه نورې اړوندې چارې پر غاړه لري.

**دوهم مطلب: د قضايي تعقيب او نظارت څارنوال**

د جرم د ارتکاب په اساس د ټولنې د له منځه تللې نظم د بيا ځلې اعادې لپاره د دولت په استازيتوب هغه شخص څخه عبارت ده چې د جزايي دعوې د څيړلو په برخه کې د قضايي تعقيب مرحلې پورې اړوند چارې لګه: د تحقيق څارنوال لخوا ترتيب شوي دوسيې تدقيق کول، پدې معنا چې د هغه ترتيب شوي تورن ليک او تحقيقات تائيد او يا هم مسترد کړي د تائيد په صورت کې د صورت دعوي ترتيب په محکمه کې د تورن تعقيب او د هغه پر خلاف ژر تر ژره دعوه اقامه کول پر غاړه لري.

**دريیم مطلب: د څارنوالانو دندې**

پدې برخه کې به لمړي د تحقيق څارنوال دندې او بيا به د تعقيب څارنوال دندې واضح کړو. ځکه چې د دواړو دندې يو له بل سره په ځينو برخو کې توپير لري.

**لمړي جز:د تحقيق څارنوال دندې**

۱-د جرم په اړه باندې تحقيق کول.

۲-د دوسيې څيړنه تر سره کول.

۳-د اړتيا په صورت کې د هغه مظنون نيول چې لا تر اوسه پورې نيول شوي نه وي او د هغه مظنون خوشې کول چې بيګناه ثابت شي.

۴-د مظنون د حقوقو اعلان کول.

۵-د تحقيق اجرات ترسره کول.

۶-د تحقيق بشپړول او د د تعقيب څارنوال ته دوسيې سپارل.

**دويم جز: تعقيب څارنوال دندې**

۱-د دوسيې څيړنه ترسره کول.

۲-د صورت دعوي ترتيب کول.

۳-په ټاکلي وخت باندې د اجرااتو بشپړول او ابتدائيه محکمې ته د دعوې د اقامه کولو په موخه باندې د دوسيې سپارل.

**څلورم مطلب: د څارنوالانو د استخدام شرايط**

د څارنوالی د واک او تشکيل قانون په (۲۸) ماده کې اړوند شرايط ذکر کړي دي چې عبارت دي له:[22]

۱-د افغانستان تابعيت درلودل.

۲-لږ تر لږه د حقوقو يا شرعياتو له پوهنځي څخه د ليسانس سند تر لاسه کول.

---

[22]. (۷) ګڼه لمنليک ته دې مراجعه وشي، د څارنوالی د واک او تشکيل قانون،۲۸ ماده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳-له مدني حقوقو څخه نه محروميت.

۴-په سياسي ګوندون کې نه غړيتوب.

۵-له اداري فساد، عمدي جنحي يا جنايت په جرمونو باندې نه محکوميت.

۶-په مخدره موادو باندې نه روږديتوب.

۷-د ۲۴ کلنۍ سن بشپړول.

۸-د ځارنوالۍ د ستاژد دورې بشپړول يا د حقوقي او قضايي زده کړو د مرکزونو د ستاژ د دورې بشپړول.

ټول ځارنوالان د هويت ځانګړي کارت لرونکي دي چې د ځارنوالۍ د عالي شورا لخوا تصويبږي او د اړوندې دندې د اجرا په وخت کې وړاندې کيږي.[23]

**پنځم مطلب: د ځارنوال صلاحيتونه**

د افغانستان د جزايي اجرااتو د قانون له مخې ځارنوالان د دندې د اجرا کولو په وخت کې ډير صلاحيتونه لري چې ځيني يې مونږ دلته ذکر کوو:[24]

۱-د مظنون توقيف کول او يا خوشې کول.

۲-د پوليسو د اجرااتو د اصلاح غوښتنه کول.

۳-د قضايي ضبط مراجعو څخه د نويو دلايلو د را ټولولو غوښتنه کول.

۴-د محکمې په پريکړه باندې اعتراض ترسره کول.

۵-اړونده دوسيه حفظ کول.

۶- د ځارنوال لخوا د جلب او احظار امر صادرول.

**شپږم مطلب: د ځارنوال اړوند پرنسيپونه**

ځارنوال د دندې د ترسره کولو پر مهال باندې مکلف ده چې ځينې قواعد او پرنسيپونه په نظر کې ونيسي چې له ځينو څخه په لاندې توکه باندې يادونه کوو:

۱- د خپواکي پرنسيپ: پدې معنا چې ځارنوال به په خپلو اجرااتو کې بشپړه خپلواکي په پام کې نيسي.[25]

۲-د بې پرې والي پرنسيپ: دې معنا چې ځارنوال به د د دعوي د هيڅ لورې پلوي نه کوي.[26]

۳- د ځارنوال د اجرااتو د چټکتيا پرنسيپ: دغه پرنسيپ پدې چې معنا ځارنوال بايد خپل اجراات په ټاکلي موده کې چې قانون ورته ټاکلي ده بشپړ کړي. په اجرااتو کې چټکيتا د عادلانه محکمې د شرطونو څخه يو اړين شرط ده.د افغانستان د جزايي اجرااتو قانون په (۱۰۰) ماده کې د د توقيف امر د (۹۹)

[23]. پورتنې ماخذ،د ځارنوالي د واک او تشکيل قانون، ۳۴ ماده.
[24]. د افغانستان جزايي اجرااتو قانون(۱۳۹۳).۱۱۳۲رسمي جريده،۸۸،۸۹،۹۲، ماده.
[25]. (۴) ګڼه لمنليک ته دې مراجعه وشي،د افغانستان اساسي قانون،۱۳۴ ماده.
[26]. (۲۱) ګڼه لمنليک ته دې مراجعه وشي، حفيظ الله دانش، ص ۹۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مادې مطابق د ۷ ورځو څخه تر ۱۵ ورځو پورې ټاکلی ده. همدارنګه د جزايي اجرااتو قانون (۱۴۹) مادې هم د دواړو څارنوالانو د کارلپاره ټاکلي موده په پام کې نیولې ده.[27]

**اووم مطلب - د څارنوال مکلفیتونه**

څارنوال د صلاحیتونو په درلودلو سره یو لړ مکلفیتونه چې د هېواد نافذه قوانینو ذکر کړي په غاړه لري، چې د دندې اجرا کولو پر مهال باید فردي عدالت، اجتماعي عدالت او جنایي عدالت تامین ته پاملرنه وکړي. د څارنوال مکلفیتونو د ښه توضیح کولو په خاطر په دریو مرحلو کې څیړو:د تحقیق مرحله، عدلي تعقیب مرحله او د حکم نافذیدو مرحله.

**لمړي جز-د تحقیق په مر حله کې د څارنوال مکلفیتونه**

که څه هم څارنوال مکلف ده چې د ترسره شویو اجرااتو څخه څارنه وکړي خو اساسي دندې د کشف څخه وروسته د تحقیق په مرحله کې شروع کیږي. د څارنوال مکلفیت د مظنون او متهم په وړاندې د جنایي عدالت تامین ده. د څارنوال مکلفیت د تحقیق په مرحله کې عبارت دې له:

۱-د جرم د پیښیدو څخه اطلاع تر لاسه کول: د تحقیق څارنوال مکلف ده هغه معلومات چې د جرم اړوند ورته رسیږي، د تا ریخ او ساعت په قید کولو سره واخلي او په نږدې وخت کې ورته رسیده ګي وکړي. همدارنګه په مشهود جرم کې څارنوال کولای شي د جرم پیښې ځای ته لاړ شي.[28]

۲- د عدلي تعقیب په پړاوونو کې د څارنوال منع:د جزایي اجرااتو قانون (۱۴) مادې دغه حالات په لاندې توګه ذکر کړي دي:

- په هغه صورت کې جرم د هغه او یا د هغه له خپلوانو څخه د یوه په خلاف ارتکاب شوي وي.
- په هغه صورت کې د تورن د خپلوانو له جملې څخه وي.
- په هغه صورت کې چې په عین قضیه کې د مخه له اړخونو څخه د یوه د مدافع وکیل، قاضي، حقوقي مشاور، اهل خبره یا د شاهد په توګه ګډون کړی وي.[29]

۳-د مظنون او تورن د حقوق څرګندول: د جزایي اجراات قانون د (۸) مادې په استناد سره څارنوال مکلف ده چې مخکې د تحقیق له پیل څخه مظنون او تورن ته د هغه حقوق چې د جزایي اجرااتو قانون په (۷) ماده کې ذکر شوي دي وښايي. همدارنګه څارنوال مکلف ده چې د حقوقو له تفهیم څخه وروسته موضوع په محضر کې درج او د هغوي لاسلیک او د ګوتې نښان واخلي.

هغه مظنون یا تورن چې د عدلي تعقیب پړاو کې په ژبه پوه نشي او یا کوڼ او ګونګ وي څارنوال مکلف ده چې د هغه لپاره ترجمان ونیسي او په هفه صورت کې چې بې بضاعته وي دولت د هغه لپاره ترجمان ونیسی.

۴- د مدافع وکیل غوښتنه: له مظنون یا تورن څخه تحقیق باید د مدافع وکیل په شتون کې صورت ونیسي. د جنایت په جرم کې د د مدافع وکیل لرل اړین دي. د جزایي اجرااتو قانون (۱۵۲) مادې مطابق څارنوال مکلف ده چې د جنایت په جرم کې یو تن مدافع وکیل د تورن په مصرف ونیسي. په هغه

[27]. (۲۴) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي،د جزایي اجرااتو قانون، ۱۴۹/۱۰۰ ماده.

[28]. پورتني ماخذ، د جزایي اجرااتو قانون،۵۸ ماده.

[29]. (۱۱) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي،IL_F بنیاد بین المللی حقوقی افغانستان بنیاد آسیا،ص ۱۵۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صورت کې چې تورن بیوزله وي، د هغه لپاره د حقوقي مرستو ادارو له لورې هغه ته وکیل یا حقوقي مساعد ونیسي.

۵-تورن ته د جرم انتساب: څارنوال مکلف دی له مظنون سر ه په لمړي برخورد کې د هغه د هویت تثبیت او د هغه د جرمي عمل ارتکاب چې ورته نسبت ورکړل شوی ابلاغ او مدافع وکیل ته د هغه د لاس رسي د خبریدو وروسته یې بیانونه وپوښتي. د مظنون بیانونه چې په محضر کې درج کیږي او عکس او هویت یې په ځانګړي فورم کې درجیږي.[30]

۶- په غیر قانوني ډول د بیانونو اخیستلو ممنوعیت: له مظنون یا تورن څخه په هره لاره بیان اخیستل چې د قانون خلاف واوسي اعتبار نلري. څارنوال مکلف ده چې په غیر قانوني ډول بیانونو اخیستلو څخه ډډه وکړي. چې د جزایي اجرااتو قانون (۲۲) ماده په دې اړه داسې څرګندونه لري:د قضایي ضبط مامور، څارنوالی او محکمه په هیڅ حالت کې اجازه نلري چې خپله یا د بل شخص له لارې په ناوړه چلند، د مخدره موادو استعمال، اکراه، ځورونې، په مقناطیسي خوب، تهدید او ویرولو او یا د څه ګټې په وعدې سره مظنون یا تورن اظهار یا اقرار ته مجبور کړي. قضایي ضبط مامور، څارنوال مکلف دی د جرم پیښندو او د مظنون یا تورن د الزام د اثبات په اړه متعدد دلایل را ټول کړي.

۷- د پانو او شیانو ضبط منع:څارنوال نشي کولای هغه پاڼې او شیان چې په جرمي قضیې پورې اړه نلري ضبط کړي. څارنوال مکلف ده چې د اړوندو پاڼو او شیانو تر لاسه کولو وروسته پلټنه پای ته ورسوي. همدارنګه څارنوال نشي کولای هغه معلومات افشا کړي چې د دندې پر وخت لاسته ر اوړي دي.[31]

۸-د علی السویه دلایلو راټول: څارنوال مکلف ده چې د جرم د اثبات دلایل او تبریه کوونکي دلایل علی السویه راټول او وارزوي.

۹-د تحقیق د مودې رعایت کول: د جزایي اجرااتو قانون (۱۴۹) مادې مطابق د تحقیق او جزایي دعوي اقامې دعوې موده:

-په قباحت کې تر (۱۰) ورځو پورې.

- په جنحه کې تر (۲۷) ورځو پورې.

- په جنایت کې تر (۷۵) ورځو پورې.

که چیرته تورن تر توقیف لاندې نه وي لوی څارنوال کولای شي د تحقیق او جزایي دعوې د اقامې موده په جنحه کې تر (۹۰) ورځو او په جنایت کې تر (۱۸۰) ورځو تمدید کړي.

۱۰- د تحقیق د محضر ترتیب کول: څارنوال مکلف ده چې د جزایي اجرااتو قانون د (۱۶۱) مادې مطابق د تحقیق د اجرا په وخت کې محضر ترتیب کړي. چې محضر د تحقیق د څارنوال لخوا لاسلیک او د کشف محضر له هغه سره ضمیمه کیږي. همدارنګه څارنوال مکلف د جزایي اجرااتو قانون د (۱۶۴) مادې مطابق د تحقیق د پای ته رسیدو محضر ترتیب کړي.

---

30. (۲۴) ګنه لمنلیک ته دې مراجعه وشي، د جزایي اجرااتو قانون، ۱۴۸ ماده.

31. پورتنی ماخذ، د جزایي اجرااتو قانون، ۱۳۴او۱۳۵ ماده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دوهم جز-د قضايي تعقيب په مرحله کې د څارنوال مکلفيتونه**

د قضايي تعقيب په مرحله کې څارنوال مکلفيتونه عبارت دي له:

۱-د دوسي تدقيق: د قضايي تعقيب څارنوال د دوسيي له تدقيق او او ارزوني وروسته د لزوم په صورت کې د جزايي اجرااتو قانون د (۱۶۸) مادې مطابق لاندې اجرااتو په سرته رسولو باندې مکلف دی:

-په جرم پورې د اړوندو سندونو، مدارکو او شيانو غوښتنه.

-د تورن شخص او د جرم د وصف د ټاکلو په نسبت د نيول شويو اقداماتو د بدلون يا الغا په اړه په کشف او تحقيق پورې د اړوندو اجرااتو په باره کې د قرار صادرول.

-د تحقيق د بشپړتيا او نيمګړتيا د لرې کولو لپاره د دوسيې اعاده.

-په دوسيه کې په درج شويو دلايلو مستند د تورنليک تائيد او د صورت دعوې ترتيبول.

-د تورنليک لغو او د هغه د بيا ترتيب په اړه د قرار صادرول.

- د تورنليک لغو د ددې قانون د حکمونو مطابق د دوسيې حفظ په اړه د قرار صادرول.

۲- د جزايي دعوې اقامه کول:د قضايي تعقيب څارنوال مکلف ده چې د تورنليک د تائيد په صورت کې د تحقيق ټولې پاڼې په يوه فهرست کېله جزايي دعوې سره يو ځای واکمنې محکمې ته احاله کړي.څارنوال مکلف دی تورن، مجني عليه، د حق العبد مدعي او د حق العبد مسول محکمې ته د قضيې له احالې څخه د احالې د ګنې او نيټې او اړوندې په قيد سره خبر ورکړي.

۳-د محکمې له اجنډا حخه خبر ورکول:د جزايي اجرااتو (۱۷۶) مادې مطابق څارنوال مکلف ده چې محکمې ته د موضوع له احالې څخه وروسته د قضيې د مقدماتې څيړنې موده د محکمې د تحريراتو له دفتر سره هم غږی کړي او موضوع د هغو اشخاصو خبرتيا ته چې حضور اړين ده رسماً ابلاغ کړي.

**دريیم جز- د تنفيذ د حکم په مرحله کې د څارنوال مکلفيتونه:**

د څارنوال مکلفيتونه د تنفيذ په مرحله کې عبارت دي له:

۱-د اعدام تنفيذ په وخت کې د څارنوال حضور: د جزايي اجرااتو قانون (۳۱۵) مادې مطابق د اعدام د جزا د تطبيق پر مهال د څارنوال شتون اړين دی. د اعدام د حکم د تنفيذ په وخت کې د هغه حکم نص او هغه تور چې ددغه حکم د صادريدو موجب ګرځيدلی ده د تنفيذ په ځای کې د اجرا څخه د مخه د څارنوال لخوا قرائت کيږي. موظف هئيت مکلف ده چې د اعدام د مجازاتو له تنفيذ څخه وروسته د مجکوم عليه د مرګ په هکله د طبيب تصديق واخلي او دپيښيدو وخت يې په محضر کې درج او لاسليک کړي.

۲-د حبس د مجازاتو تنفيذ: د جزايي اجرااتو قانون (۳۲۱) مادې مطابق د حبس په مجازاتو د شخص د محکوميت په اړه د محکمو قطعي فيصلې د څارنوال تر څارنې لاندې په محبسونو کې تطبيق کيږي.

۳-د حيثيت د اعادې غوښتونکې ته اطلاع ورکول:د د جزايي اجرااتو قانون (۳۷۰) مادې مطابق څارنوال مکلف ده چې د محکمې د غونډې د جوړيدو څخه لږ تر لږه (۷) ورځې د مخه غوښتنليک ورکونکې ته خبر ورکړي. محکمه د حيثيت د اعادې غوښتونليک د څيړنې په وخت کې د غوښتنليک ورکوونکې او څارنوال بيانونه اوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اووم مبحث: څارنوالۍ تاريخي بهير د افغانستان په قوانينو کې

### لمړی مطلب: د افغانستان د مدعي العموميت اداري تشکيلات

د څارنوالۍ د چارو د تنظيم قانون په ۱۳۴۳ هـ ق کال کې په ۲۴ مادو کې نافذ او په ۱۷ ګڼه رسمي جريده کې خپور شو. دغه قانون کې څارنوالي د لوی څارنوالۍ د اداري په حيث يعنې د مدعي العموميت اداره او لوی څارنوال يې د افغانستان د مدعي العموم په نوم معرفي کړ.

د مدعي العموم مرکزې اداري د جرمونو د کشف او د هغو سره د مجادلې لپاره د پاچا ظاهر شاه د وخت اساسي قانون د (۱۰۳) مادې پر بنسټ په ۱۳۴۳هـ کال کې تاسيس شوي ده چې ياده ماده په لاندې ډول صراحت لري:[32]

د جرمونو څيړنه د قانون د حکمونو سره سم د مدعي العموم له خوا چې د دولت په اجرائيه قوې پورې تړلې ده، ترسره کيږي. چې په هر ولايت کې د مدعي العموم دفترونه شتون لري، همدارنګه د مدعي الموم د اداري تشکيلات او دندې په لاندې ډول دي:

#### 1. د جرايمو د کشف مديريت

د جرايمو د کشف مديريت دندې د جزايي قضيو تدقيق او د کورنيو چارو د وزارت څخه د ورځينيو پيښو د راپورنو لاسته راوړل، او د هغوي مراقبت ترسره کول.

ددې سربيره د ولايتونو د څارنواليو څخه د جزايي دوسيو د اجرااتو د راپورونو ترلاسه کول، د ترلاسه شويو راپورونو عمومي ترتيب، تنظيم او توحيد، د محبسونوو او توقيف خونو او همدارنګه د بنديانو د اصلاحاتوعملي کول.

#### 2. د تدقيق عمومي مديريت

د تدقيق عمومي مديريت د ۱۳۴۵ هـ کال د جدي په مياشت کې جوړ شو، چې ددغه مديريت په تشکيل کې مامورين او يو تعداد مسلکي غړي شامل دي، چې په مشخصو کټګوريو کې به يې دندې ترسره کولې.

#### 3. د مدعي العموميت د اړيکو مديريت

دغه اداره لاندې ذکر شوې دندې پر مخ باندې وړي:

۱- د دولتي ادارو څخه د جزايي دوسيو ترلاسه کول چې د تفتيش په نتيجه کې اړونده جرم پکې ثبت شوي وي.

۲-د وارده دوسيو مطالعه کول او د لوی څارنوالۍ رياست ته اړينې غوښتنې وړاندې کول، او اړونده مراجع ته لاربنونه کول.

۳-د ترتيب شويو راپورنو وړاندې کول لوړ پوړې مقام ته.

۴-د مرکز، و لايتونو او وزارتونو سره د اړيکو تامينول.

---

[32]. د افغانستان اساسي قانون(۱۳۴۳)هـ کال.رسمي جريده، ۱۰۳ ماده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### 4. د مرکز ابتدائیه څارنوالی اداره

دغه اداره لانـدې دندې پرمخ وړلي:

۱-د جزايي دوسو سپارل دعوي په اړه.

۲-د عيب لرونکو(ناقصو) دوسيو د بشپړولو لپاره مسترد کول.

۳-د يادې شوې اداري په مرسته د تورنو کسانو رابلل او محکمې ته يې ليږل.

۴-د قانون سره سم د صورت دعوي برابرول.

۵-د ابتدايه محکمې د وروستنيو احکامو نافذ کول.

### 5. د عامه امينت او مامورينو د استيناف څارنوالی

ددې څارنوالی دنده د عامه امينت او مامورينو جرمي قضيو ته رسيدگي کول ؤ، چې د ولايتونو د محکمو د رياست د عامه امنيت ديوانونو څخه چې پريکړې يې د ابتدايي محکمې په څير دي، او د استيناف د پريکړې لپاره د څارنوالي د عالي اداري يا د ولايت مقام او يا خپله د تورن يا متهم شخص لخوا دې اداري ته راځي، دوسيه د صورت دعوي د ترتيب کول څخه وروسته مرکزې استيناف محکمې ته ليږل کيږي او مرکزې استيناف محکمه د يادې شوې محکمې د استازې په حضور کې جسله دايروي او پريکړه کوي. همدا چې د مرکزې استيناف محکمې پريکړه راورسيده د دريمې يا تميز محکمې پريکړې لپاره چې د څارنوالی عالي اداري يا خپله محکوم غوښتنه وي، ددې څارنوالی لخوا د سترې محکمې د تميز عالي اړوند

رياست ته ليږل کيږي. چې يواځې لاندې قضيې د استيناف محکمې ته د ارجاع وړ وي:

الف: جزايي قضيې چې په لاندې ډول دي.

۱-د قاچاق اړوند قضيې.

۲-جعل او تزوير اړوند قضيې.

۳-رشوت اړوند قضيې.

۴-د دندې پر مهال د مامورينو او اجيرانو جرمونو اړوند قضيې.

۵- د اختلاس اړوند قضيې.

۶-د عامه امنيت اړوند قضيې.

ب: د عامه حقوقو اړوند قضيې: هغه قضيې دي چې د خلکو او دولت ترمنځ رامنځته کيږي.

ج: عدلي قضيې د موقتې استيناف په اړوند باندې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### 6. د عامه امنيت اوماموړينو د تميز محکمي څارنوالی اداره

دغه اداره د څارنوالۍ عالي اداره وه چې په تير جمهوريت کې د څارنوالی معادل وه چې د جزايي دعوي تعقيب به يې د هېواد په تميز محکمه کې په غاړه ؤ او په ځانګړې ډول دې اداري هغه قضيې تعقيب کولې چې د عامه امنيت په ضد به وي او يا به د دولت د ماموړينو لخوا ځيني جرايم تر سره کيدل.

په کال ۱۳۵۵هـ ق کې د وخت د انقلابي شورا له لوري اساسي اصول چې د موقت اساسي قانون امر يې درلود تصويب کړاي شول، او په ۱۳۵۹ کال کې کې نافذ کړل شو. ددې قانون ۵۹ ماده« د افغانستان د دموکراتيک جمهوريت لوي څارنوال د هېواد څارنوالی د ارګانونو د فعاليت لارښوونه په غاړه لري» کې د لمړي ځل لپاره د لويې څارنوالی اداره د عدليې وزارت څخه بيله کړاي شوه او د يو خپلواک ارګان په توګه د دولت په جوړښت کې رامنځته شوه.

په ۱۳۶۵ کال کې د دولت په سمبالولو کې بدلون راغي او اساسي قانون د لويې جرګې له لورې تصويب کړل شو، او په ۱۳۶۶ کال کې د وري به مياشت کې د ولسمشر له لورې لاسليک شو. چې ددې اساسي قانون په نهم فصل کې د څارنوالی په اړه بحث شوي او ځيني موارد ليکلي وه. چې (۱۲۱،۱۲۰،۱۱۹،۱۱۸،۱۱۷) مادې د يادولو وړ دي.[33]

د افغانستان د اسلامي آمارت د لمړي دروې پر مهال په ۱۳۷۵ کال د کب د مياشتې په ۱۶ نيټې د امر پر بنسټ لويه څارنوالي د عدليې وزارت تر چتر لاندې راغله او د ۱۴۱۹ هجري قمري کال د ۵ مياشتې جمادي الاول د ۲۳ نيټې د ۱۰۹ نمبر فرمان پر بنسټ د څارنوالی صلاحيتونه قاضيانو ته وسپارل شول.

د افغانستان د اسلامی آمارت د لمړي دورې د پاي ته رسيدو وروسته په ۱۳۸۰ کال کې لويې څارنوالي ته بيا جوړښت ورکړل شو.اساسي قانون د لويي جرګې له لورې تصويب او د ولسمشر لخوا د ۱۳۸۲ کال د سلواغې د مياشتې په ۶ نيټه نافذ شو. او په ۱۳۴ ماده کې اساسي قانون څارنوالی ته مشروعيت ورکړ.

د افغانستان د تير جمهوری دولت له جوړښت څخه وروسته د لويې څارنوالی جوړښت هم وده وکړه، چې مخکې د عدليې وزارت تر لاس لاندې وه او وروسته د يوې خپواکي اداري په توګه په فعاليت پيل وکړ.د افغانستان تير اسلامي جمهوري دولت کې د لويې څارنوالۍ ادارې ۴ مرستيالان درلودل چې هر يو مرستيال يې په خپل جوړښت کې څو نور رياستونه تر لاس لاندې وه. چې دغې اداري د پنځه زرو په شاوخوا کارکوونکي په مرکز کابل او نورو ولايتونو کې درلودل چې يوه برخه يې اجيران او نور يې په مسلکي او اداري څانګو کې په دندو باندې بوخت وه.

**دويم مطلب: د لمړني اساسي قانون څخه تر اوسني قانون پورې د څارنوالی منزلت ته لنده کتنه:**

د غازي امان الله خان په دوره کې په ۱۳۰۳ هـ لمريز کال کې د کابل په پغمان ساحه کې لويه جرګه دايره شوه چې ۱۰۵۲ تنو د ولس نماينده ګانو پکې ګډون کړي وه او اساسي قانون يې چې ۷۳ مادې درلودې چې لس څپرکي درلودل تصويب کړ.[34]

---

[33]. د افغانستان اساسي قانون(۱۳۶۳)هـ کال، رسمي جريده.
[34].سرور دانش(۱۳۹۴).حقوق اساسي افغانستان،کابل، انتشارات اميري،ص ۸۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه وخت د حقوق الله د مدعي شتون اړین وه، چې په همدې دلیل باندې په اساسي تشکیلاتو کې د ضمیمو په منځ ته راوړلو سره د لمړي ځل لپاره د جرم د اثبات د وکیل یادونه وشوه، که چېرته د یو شخص پر خلاف په محکمه کې په مشترک ډول د حقوق الله او حقوق العباد دعوي کیدي او مدعي به مخکې له پریکړې د صادریدو څخه غایب یا نادرکه شو د هغه د حقوق الله د قضیې د موضوع د حل په موخه باندې د یو عمومي مدعي یا وکیل په موقت ډول باندې د محاکمو لخوا ګمارل کېده او هغه په سر به حقوق العبد د هغه تر حضوره باقي پاتي کیده.

د افغانستان دویم اساسي قانون د محمد نادر شاه له لخوا په (۱۳۰۹ هـ ش) کال کې جوړ شو.دغه اساسي قانون ۱۱۰ مادې په ۱۴ فصلونو کې درلودې. د څارنوالی ارګان یې د عدلیې وزارت په چوکاټ کې منحصر کړي وه.

د افغانستان درېیم اساسي قانون د محمد ظاهر شاه له لوري په کال (۱۳۴۳هـ ش) په ۱۲۸ مادو او ۱۱ څپرکیو کې تصویب کړل شو.[35] دغه قانون کې د مدعي العمومیت په نوم اداره جوړه شوه چې په ۱۰۳ ماده کې داسې یادونه شوې ده.[36]

«د جرمونو پلټنه د مدعي العموم لخوا چې د دولت د اجرائیه قوې یوه برخه ده د دې قانون د احکامو سره سم ترسره کیږي».

۱۳۴۵ هـ لمریز کال د کب د میاشتې په ۱۵ نیټه د څارنوالی قانون نافذ او د څارنوالی د چارو د تنظیم قانون لغوه شو چې دغه قانون د عدلي وزیر د لوې څارنوال په حیث باندې معرفی کړ.

د افغانستان څلورم اساسي قانون د هیواد لمړني ولسمشر سردار محمد داوود خان لخوا په کال (۱۳۵۵هـ ش) کې په ۱۳۶ مادو او ۱۳ څپرکیو کې تصویب کړل شو. د یاد اساسي قانون په ۱۰۶ ماده کې داسې یادونه شوي وه چې(د جرایمو کشف د پلټنې د پولیسو، تعقیب او دعوي د څارنوال لخوا چې د اجرائیه قوې جز ده، د قانون د احکامو سره سم ترسره کیږي).[37] پدې اساس تحقیق او څارنه په بشپړه او عملي توګه څارنوال پورې تړاو پیداکړ، چې څارنوالي په دغه وخت کې یادو شویو موخو ته په کتو سره د حقوق او شرعیاتو پوهنځیو او لا تر دې چې د نورو پوهنځیو د فارغانو په جذبولو کې چې د قانون په تطبیق او د عدالت په راوستو کې د وکړو د خوشحالي سبب کېده اغیزمن کامونه واخیستل.

پنځم اساسي قانون د ببرک کارمل له لورې په کال (۱۳۵۹هـ ش) کې په ۱۳۶ مادو کې تصویب کړل شو چې د افغانستان ډیموکراتیک جمهوریت اصول په نامه یاداوه. دغه قانون اتم فصل څارنوالی ته ځانګړی شوي وه چې څارنوالی یو واحد جوړښت معرفي کړي وه. د دیموکراتیک جمهوریت د جوړښت څخه وروسته د حقوقو او قانون قانون څخه د حراست اداري د اقتدار لرونکي حزب سره تړاو پیداکړ چې همدا موضوع په خپله د قانونیت د کمزوتیا سبب وګرځیده.[38]

د افغانستان شپږم اساسي قانون د په (۱۳۶۶هـ ش) کال کې د ډاکټر نجیب الله له خوا په ۱۴۹ مادو او ۱۳ څپرکیو کې تصویب کړل شو.[39] ددې اساسي قاتون نهم فصل څارنوالی ته ځانګړی شوی وه،[40]چې ددې قاتون ۱۱۸ ماده په لاندې ډول وه:

---

[35]پورتنې ماخد.سرور دانش،ص ۸۹.

[36].(۸)ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي، اخلاق حقوقي در عمل(اخلاق و حقوق مسلکي)ص ۱۴۶.

[37]. د افغانستان اساسي قانون(۱۳۵۵)هـ کال.رسمي جریده،۱۰۶ ماده.

[38]. پورتنې ماخذ، سرور دانش، ص ۸۹.

[39].پورتني ماخذ، سرور دانش، ص ۹۰.

[40]. د افغانستان اساسي قانون(۱۳۶۶)هـ کال. رسمي جریده،۱۵۶ ګڼه،۱۴۹ ماده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

« لویه څارنوالي او د څارنوالۍ د ارګانونو د فعالیت مشرۍ په خپلو اجراتو کې خپلواکه ده. او یواځې د قانون او لوی څارنوال تابع دي».

لوی څارنوال او جمهور رئیس اوسط مرستیالان د اساسي قانون د ۱۱۹ مادې له مخې یواځې د شپږو کالو مودې لپاره ټاکل کیږي.

د افغانستان اووم اساسي قانون د استاد برهان الدین رباني په دوره کې په کال (۱۳۷۲هـ ش)کې چې ټولې ۱۱۴ مادې درلودې د هغه کمیسیون په واسطه چې ۵۰ تنو پکې ګډون کړی وه تدوین کړل شو. خو دغه قانون د هېواد د ستونزو او جګړو له امله هیڅ کله تصویب او توشیح نشو.

په کال ۱۳۷۵هـ کال د تلې په ۵ نیټه باندې د طالبانو له لورې جمهوریت سقوط کړل شو، چې د افغانستان د اسلامی جمهوریت دولت نوم د افغانستان اسلامي آمارت ته بدل کړ. دوي د قانون د تطبیق په اړه باندې حکم وکړ چې د هېواد ټول قوانین دي د شرعي نظام د برقراریدو په موخه په ستره محکمه کې د علماو هئیت د مشرۍ لاندې راټول شي، غیر شرعي مواد دي ترې حذف کړل شي او د آمارت ترمنظورۍ وروسته دې په رسمي جریده کې خپاره شي. په کال ۱۳۷۵هـ لمریز کې د کب په ۱۶نیټه د ۱۲ ګڼه فرمان د دولت د اساسي تشکیلاتو او وزارتونو په اړه داسې څرګندونې کړې وي. کومې ادارې چې د سردار محمد داود خان په وخت کې وزارتونه وه، وزارت به پاتې شي، ریاستونه او مدیریتونه او همدارنګه داسې نورې اړوندې اداري دې د ادارو د اصلي برخو سره یو ځای کړل شي. پدې وخت کې د افغانستان لویه څارنوالۍ او د عدلیې وزارت یوه واحده اداره شو.

د ۱۴۱۹ هـ ق کال د زمري د میاشتې د ۲۳ نیټې د ۱۰۹ ګڼې د فرمان د دویمې مادې په دویم بند کې د څارنوالۍ په اړه داسې یادونه ترسره کړي وه:

«د څارنوالۍ د څیړنو کار قضا ته وسپارل شو، قضات مکلف دي چې د دوسیو پلټنې دې د یوې فتوي سره سرته ورسوي او د پریکړې په موخه دې اړوندې محکمې ته وسپاري، په ټوله کې د ۱۶ ریاستونو څخه دوه ریاستونه د قانون د تطبیق د څارنې او د آزادي د سلب د ځایونو د څارنې ریاست باقي پاتې شول. چې نور ټولو ریاستونو فعالیت ودرول شو».

پدې وسیله د عدلیې وزارت ته لاربښونه شوې وه چې په مرکز او ولایتونو کې دي د څارنوالۍ د څارنې د څانګې هغه مسولین چې په وزارتونو، عمومي ریاستونو او د هغو په څانګو کې چې په ولایتونو کې دي، د څارنوالۍ د قانون سره سم د قانون د تدقیق او بې له انحرافه تطبیق، د فرامینو او د افغانستان د اسلامي آمارت د احکامو څخه څارنه وکړي.[41]

د افغانستان اسلامي آمارت لمړي دوره په ۱۳۸۱ کال کې له منځه لاړه چې په کال ۱۳۸۲ هـ لمریز کې د لیندۍ د میاشتې په ۲۳ لویه جرګه جوړه شوه چې د ۲۳ ورځو بحث څخه وروسته د ۱۳۸۲هـ ل کال د جدي په ۱۴ نیټه یې نوی اساسي قانون تصویب او د جمهور رئیس له توشیح وروسته نافذ کړل شو، چې ټول ۱۲ فصلونه او ۱۶۲ مادې درلودي.[42]

چې د افغانستان اساسي قانون ۱۳۴ مادې داسې څرګندونه کړي وه:[43]

«د جرمونو کشف د پولیسو په وسیله او د جرمونو تحقیق او په محکمه کې پر متهم باندې د دعوا اقامه د څارنوالۍ لخوا، د قانون د احکامو سره سم ترسره کیږي. څارنوالۍ د اجرائیه قوې یوه برخه ده چې

[41]. عدلیې وزارت،د افغانستان اسلامي آمارت،(۱۴۱۹)هـ کال.۱۰۹ګڼه فرمان،۲ ماده،دویم بند.
[42]. (۴) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي،د افغانستان اساسي قانون،رسمي جریده.۸۱۸ ګڼه.
[43]. پورتنې ماخذ،د افغانستان اساسي قانون،۱۳۴ماده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپلو اجرااتو کې استقلالیت لري، تشکیل، صلاحیت او د اجرااتو څرنګوالی د قانون له لورې تنظیم کیږي.»

کله چې په ۲۰۰۱ میلادي کال د نومبر د میاشتې په ۲۷ نیټه باندې د بن په المان ښار لمړنی کنفرانس دایر شو، چې افغان مشران د افغانستان د موقت حکومت د مشر د ټاکلو لپاره را غونډ شوي وه، نو دې وخت کې لا هم افغانستان هغه هېواد نه وه چې مشروع حکومت دې ولري، په دغه کنفرانس کې مختلفو سیاسیونو، جنګسالارانو، ځورواکو،او هغو افرادو د ګډون حق تر لاسه کړی وه چې د واک او قدرت په لالچ کې ډوب وه. ددې کنفرانس پایله دا شوه چې لمړي شپږ میاشتې موقته اداره، بیا وروسته انتقالي دوره چې دوه کاله یا په بل روایت ۱۸ میاشتې بشودل شوي وي رامنځ ته به شي. پدغه کنفرانس کې حامد کرزی ددې لقب لپاره نوماند وټاکل شو، او بلاخره په ۲۰۰۴ میلادي کال کې یعنې ۱۳۸۳هـ کې د لویې جرګې دایریدو وروسته حامد کرزی د آمریکایانو په ملتیا سره د هېواد واکې تر لاسه او د افغانستان د ولسمشر په توګه وټاکل شو.

د بن غونډه د جمهوریت د رامنځته کېدو باعث شوه، او د امریکا متحده آیالاتو راتګ ته هم زمینه برابره شوه. بلاخره کله چې د آمریکا متحده آیالاتو په وسیله په کال ۱۳۸۰ هـ لمریز کې د افغانستان اسلامي آمارت نظام را وپرځول شو، نو د لوې جرګې د دایریدو وروسته د افغانستان د اسلامي آمارت نوم د افغانستان اسلامي جمهوري دولت باندې بدل کړای شو.

د ولسمشر حامد کرزي له دورې څخه تر د ډاکټر محمد اشرف غني احمدزي دورې پورې د څارنوالي ارګان په هر برخه کې پرمختګ وکړ،چې د اساسي قانون ۱۳۴ مادې پر بنسټ مشروعیت ورکړل شو، ځانګړي قوانین د څارنوالي اړوند تصویب کړای شول،د یوې خپواکې اداري په توګه په فعالیت پیل وکړ، لویې څارنوالی څلور مرستیالاې اداري درلودې، د پنځه زرو په شاوخوا کارکوونکې په مرکز کابل او نورو ولایتونو کې درلودل، پراخ صلاحیتونه ورکړل شوي وه.

د افغانستان اسلامي جمهوری دولت د ۱۳۸۲هـ لمریز کال څخه تر ۱۴۰۰هـ لمریز کال د اسد د میاشتې ۲۳ نیټې پورې حاکم وه، چې وروسته له دې نیټې څخه د افغانستان اسلامي آمارت یو ځل بیا واک ته ورسید، او د ۱۴۰۰هـ لمریز کال د اسد د میاشتې په ۲۴ نیټې باندې چې د ۲۰۲۱ میلادي کال د اګست د میاشتې د ۱۵ نیټې سره سمون خوري د افغانستان اسلامي جمهوری دولت له منځه لاړه.له دې وروسته د افغانستان اسلامي آمارت د افغانستان نوم د افغانستان اسلامي جمهوري دولت څخه د افغانستان اسلامي آمارت ته تبدیل کړ.

دا چې د افغانستان آسلامي آمارت یو ځل بیا واک ته ورسید او د څارنوالی اړوند فعالیتونه، تشکیلات، دندې څه ډول دي؟ آیا اوس مهال د څارنوالی ارګان فعالیت لري او کنه؟ د کوم قانون په اساس څارنوالی اړوندو قضیو ته رسیدګي کیږي؟ دې او دې ته ورته نورو ټولو پوښتنو ځوابونه به ان شاءالله په درېیم فصل کې چې همدې موضوع ته یعني د څارنوالي اوسني وضعیت ته کتنه ده، ځانګړې شوې ده او هلته به پرې رڼا واچول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویــــــم څـــــپرکی

## د څارنوالی څرنګوالی په مختلفو محاکماتي سیستمونو کې

د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې جزایي قضایاو ته د رسیدګي لپاره مختلف محاکماتي سیستمونه شتون لري چې لدې جملې څخه په څلور محاکماتي سیستمونو باندې بحث ترسره کوو. چې له دې جملې په لمړي مبحث کې اتهامي محاکماتي سیستم، په دویم مبحث کې تفتیشي محاکماتي سیستم، په درېیم مبحث کې مختلط محاکماتي سیستم او په پنځم مبحث کې د اسلام محاکماتي سیستم واضح کوو.

### لمړي مبحث: په اتهامي محاکماتي سیستم کې د څارنوالۍ څرنګوالی

جزایي قضیو ته د رسیده ګي په برخه کې دغه سیستم نظر نورو محاکماتي سیستمونو ته ډیره پخوانې ریښه لري چې دا محاکماتي سیستم د لمړي ځل

لپاره په انتقام جویي او قصاص باندې ولاړ وه. دغه محاکماتي سیستم په ډیرو پخوانیو زمانو په روم کې رامنځته شو، چې بیا وروسته المان، فرانسي او اتریش ته او داسې نورو ځایونو ته خپور شو.[44] دغه محاکماتي سیستم په تدریج سره بیا په نورو هېوادونو کې لکه المان، اتریش او ټولو اروپایي هېوادونو کې مروج شو. په اوس وخت کې په پخوانیو ځانګړونو برابر او په مطلق ډول په هیڅ هېواد کې قابل د تطبیق ندي، ولې د ځینو تغیراتو قبلولو سره د انګلستان، امریکا، استرالیا او کاناډا کې د تطبیق وړ ده. پدې محاکماتي سیسم کې په اوسني عصریت سره هم د څارنوال او څارنوالۍ رول نه تر سترګو کیږي.[45]

#### لمړي مطلب: د اتهامي محاکماتي سیستم ځانګړتیاوې

۱-د دعوی اقامه، د اتهام تعقیب او د جزایي دعوي تعقیب د متضرر یا شاکي په غاړه ده.

۲-د برائت الذمي اصل پکې شتون نلري.

۳-پدې محاکماتی سیستم کې محکمه په تدافعي شکل سره صورت نیسي.

۴-مسلکي قاضیان پکې وجود نلري، او قضیه ته د عادي اشخاصو لخوا چې با رسوخه وي رسیدګي کیږي.

۵-د محاکمې نه کتبي والی، ټول اجراات په شفاهي ډول سر ته رسیږي.

۶-محکمه علني وي، ټول کسان کولای شي چې په جلسه کې ګډون وکړي.

۷-دغه سیستم د دیموکراسۍ په اصل ولاړ ده، نو قضات د خلکو له منځه ټاکل کیږي.

دغه سیستم کې د څارنوالي یا نور دولتي مراجعو په څیر تشکیلات شتون نلري.ددې لپاره چې په دغه محاکماتي سیستم کې د څارنوالی اړوند بنسټ شتون نلري نو ځکه د څارنوالي د څرنګوالي بحث څخه صرف نظر کوو.

---

[44]. محمد اشرف رسولي(۱۳۹۷). اصول محاکمات جزایي، کابل، انتشارات سعید،ص ۴۱.
[45]. (۲۱) ګڼه لمنلیک ته دي مراجعه وشي، حفیظ الله دانش، ص ۳۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دویم مبحث: په تفتیشي محاکماتي سیستم کې د څارنوالی څرنګوالی

د اتهامي سیستم د نواقصو په نظر کې نیولو سره حقوقدانان په دې لټه کې شول چې یو بل بدیل محاکماتي سیستم تر تطبیق لاندې ونیسي. چې دوي تفتیشي سیستم روش جوړ کړ.دغه روش هم لمړی ځل په روم کې رامنځته شو او بیا نورو هېوادونو ته خپور شو. د اتهامي سیستم په خلاف پدې سیستم کې د د فرد (مظنون او تورن) ګټو په برتله د ټولنې ګټو ته ډېره پاملرنه شوې دا سیستم د اتهامي سیستم په پرتله د مظنون او تورن په اړه شدید دي او د همدې دلیل په بنسټ تفتیشي سیستم وروسته له رامنځته کېدو څخه یواځې د عوامو طبقې مظنونانو او تورنانو په اړه پلي کیده. پدې سیستم کې دعوه اقامه د دولت لخوا کیږي أدې معنا چې قاضي واک درلود چې له یوې خوا د څارنوال په شان په تورن تور پورې کړي او له بلې خوا دعوي ته هم پخپله رسیدنه وکړي او حکم صادر کړي.[46]

همدارنګه پدې محاکماتي سیستم کې د دعوي اقامه، تحقیق او عدلي تعقیب د متضرر او یا خصوصي افرادو له اختیاره ووت او دولتي نهاد یا مدعي العمومیت یعنې څارنوالی په اختیار کې ورکړل شو.[47]

د مدعي العمومیت یا نیابة العامه (څارنوالۍ) د لمړي ځل لپاره په ۱۷۹۰ م کال کې په فرانسه کې منځته راغله او د جزایي قضیو برسي یې پیل کړه او جزایي دعوي یې اقامه کولې.

**لمړي مطلب: د تفتیشي محاکماتي سیستم ځانګړتیاوې**

دا محاکماتي سیستم په لاندې ځانګړنو او اصولو باندې استوار وه چې له نورو محاکماتي سیستمونو یې تفکیک هم کیدای شي:

۱-پدغه نظام کې تحقیق او جزایي عدلي تعقیب دنده د متضررینو له لورې خارج شوه او مدعي العمومیت یا څارنوالی ته وسپارل شوه تر څو د دولت په نمایندګۍ دغه کار ترسره کړي.

۲-د جرایمو د تقسیم بندې اصل، چې ځینې جرایم د متضرر په غوښتنه د ګذشت یا تیریدنې وړ وه، خو بیا ځینې جرایم عدم ګذشت بلل کیده چې د متضرر له غوښتنې پرته څارنوالۍ ورته رسیدګي کوله.

۳-د مدعي العوم د مسلکي والي او د له متهم سره د جرم او بحث له اصل پکې موجود وه.

۴-د قاضیانو د مسلکي والي اصل پکې موجود وه، د قضاوت دنده پکې مقدسه دنده ګڼل شوي وه.

۵-محکمې پدې نظام کې سري وه او خلکو نشو کولای چې پکې ګډون وکړي.

۶-د متهم محاکمه او ټول اجراات په کتبي شکل ترسره کیدل او د جلسې اړوند هر څه به پکې ثبت کیده.

۷-د اثبات په نورو دلایلو د اقرار د برترۍ او حتي د شاه دلایلو د نوم ورکولو اصل موجودیت.

---

[46]. رجب ګلدوست جویباري(۱۳۹۱).کلیات آئین دادرسی کیفری، انتشارت جنګل جاودانه،چاپ دهم، ص ۲۷، ۲۸.

[47]. (۴۴) کښه لمنلیک ته دې مراجعه وشي.محمد اشرف رسولي، ص ۴۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## درېیم مبحث: په مختلط محاکماتي سیستم کې د څارنوالۍ څرنګوالی

جزایي قضایاو ته د رسیدګي دا محاکماتی سیستم د اتهامي محاکماتي سیستم او د تفتیشي محاکماتي سیستم د مزایاو له مجموعي څخه جوړ شوي ده، دا ځکه چې د رسیدګي د یادو دوو محاکماتي سیستمونو څخه په یوه کې د ټولنې حقوق او منافع نادیده ګڼل شوي وه او په بل کې بیا د فرد یا تورن حقوق نادیده ګڼل شوي وه چې همدې معایبو ته په پام کې نیولو سره حقوقپوهانو د رسیدګي مختلط محاکماتي سیستم ته رجوع وکړه. دې محاکماتي سیستم ته د فرانسي محاکماتي سیستم هم ویل کیږي،دا ځکه چې د لمړي ځل لپاره په ۱۸ پیړي کې د فرانسوي حقوق پوهانو له لورې ایجاد او د تطبیق وړ ګڼل شوي دي، چې په تدریج سره بیا نورو هېوادونو ته خپور شوي دی. افغانستان کې د جزایي اجرااتو قانون له تنفیذ او د یو رسمي حقوقي او عدلي محاکماتي سیستم له ایجاد وروسته د رسیدګي مختلط محاکماتي سیستم تر استفادی لاندې ونیول شو.[48]

د رسیده ګي مختلط محاکماتي سیستم کې هم د تورنو تحقیق د یوې رسمي مرجع(مدعي العمومیت) ارګان لخوا صورت نیسي او هم د تورن عدلي تعقیب د همدې مرجع په اوږو بار وي.

ددې محاکماتي سیستم له مخې د څارنوالۍ لخوا تحقیق په سرې ډول سره اجرا کیږي خو د تفتیشي محاکماتي سیستم برعکس دلته تورن ته د مدافع وکیل د نیولو، اظهار نظر او نور ډېر حقوق په پام کې نیول شوي دي چې په پورتنیو محاکماتي سیستمونو کې موجود نه وه.

**لمړي مطلب: د مختلط محاکماتي سیستم ځانګړتیاوې**

جزایي قضایاوو ته د رسیدګي دا محاکماتي سیستم یو شمېر خصوصیات له نور محاکماتي سیستمونو څخه جلا کوي چې هغه خصوصیات په لاندې ډول سره تر بحث لاندې نیسو.

۱-د رسیده ګي پدې محاکماتي سیستم کې د تحقیق رسمي او مشخص دیوان (څارنوالي) وجود لري او تحقیق په کې په سرې ډول سرته رسیږي. او همدارنګه د محاکمې په وخت کې هم تعقیبږي خو ددې تحقیق سرې والي پکې په دې معنی نه دي چې تورن حقوق نه لري بلکې تورن ځانګړي حقوق او آزادي لري.

۲-د محاکمې علني والی(د اتهامي سیستم ځانګړتیا)

۳-د محاکمې ترافعي والی(د اتهامي سیستم ځانګړتیا)

۴-د دولت لخوا د دعوي اقامه کول(د تفتیشي سیستم ځانګړتیا)

۵-د محاکمې په ترڅ کې د قاضیانو لاسوهنه(د تفتیشي سیستم ځانګړتیا)

۶-د قاضیانومسلکي توب(د تفتیشي سیستم ځانګړتیا)

۷-د محاکمې کتبي والی(د تفتیشي سیستم ځانګړتیا)

---

[48]. (۲۱) ګڼه لمنلیک ته دي مراجعه وشي، حفیظ الله دانش،ص ۴۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځلورم مبحث: په اسلامي محاکماتي سیستم کې د څارنوالۍ څرنګوالی

ځیني حقوقپوهان په ځانګړي ډول اسلامي پوهان جزایي قضیو ته د رسیدګي د درې عمده نظامونو تر څنګ اسلامي نظام هم د رسیدګي یو پیاوړي محاکماتي سیستم او نظام بولي. چې دا محاکماتي سیستم د اتهامي سیستم او کامن لا حقوقي محاکماتي سیستم سره ورته ګڼي. هغه له دې امله چې په دې محاکماتي سیستم کې هم محاکمه علني شکل لري، چې اساساً څارنوال پکې نه تر سترګو کیږي. بله دا چې په اسلامي حقوقي محاکماتي سیستم کې قاضي زیات واک لري او په کامن لا کې هم زیات واک لري. همدارنګه په دواړو حقوقی سیستمونو کې مدیون قوانین زیات ارزښت نلري، او ډیرې فیصلې قاضي په خپلواکه توګه ترسره کوي. ولې بیا هم یو شیمیر علماء د قضاء د تحقیق دیوان باندې د څارنوالۍ د ارګان اطلاق کوي او وایي چې د تحقیق دیوان عبارت له هغه ارګان څخه ده چې د چارواکو، واکمنانو، د دولتي کسانو او همدارنګه د عامه خلکو پر فعالیتونو باندې څارنه ترسره کوي تر څو چې د قانون له حکومونو او د اسلامی شریعت احکامو څخه سرغړونه ونه کړي.[49] دلته یوه پوښتنه پیداکیږي هغه دا چې اسلامي نظام کې څارنوالۍ له کوم ځای څخه سرچینه اخلي؟

د پورتنۍ سوال ځواب د الله تعالي د لاندې اقوالو په رڼا کې واضح کوو، الله تعالي فرمایي:[50]

«یاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِن جَآءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبإٍ فَتَبَيَّنُواْ أَن تُصِيبُواْ قَوْماً بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُواْ عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ»

ژباړه: اې مومنانو که کوم فاسق تاسو ته له کوم خبر سره راشي، نو تاسې د (خبره په اړه) پلټنه وکړئ، هسې نه چې کومې ډلې ته په ناپوهۍ سره ضرر ورسوي او بیا په خپلو کړو پښیمانه شئ.

همدانګه په بل ځای کې الله متعال فرمایي:[51]

«قالُوا يا مُوسى إِنَّ فيها قَوْماً جَبَّارينَ وَ إِنَّا لَنْ نَدْخُلَها حَتَّى يَخْرُجُوا مِنْها فَإِنْ يَخْرُجُوا مِنْها فَإِنَّا داخِلُونَ»

ژباړه: هغوي په ځواب کې وویل: اې موسی! هلته خو ډیر زورور خلک اوسیږي. موږ به هیڅکله هلته لاړ نشو، تر څو هغوي له هغه ځایه ونه وځي. هو که هغوي ووتل نو مونږ به د ور ننولو لپاره چمتو یوو.

همدارنګه ظافر قاسمي په خپل تالیف دیوان المظالم کې د نیابة العامه(څارنوالۍ) په اړه باندې وایي چې دا د قضا سره په یو ضم موسسه ده، چې جزایي قضایاوي او هغو مدني قضایاو ته رسیدګي کوي چې ټولنې پورې تړلې وي تر څو د جامعې د فکر څخه دفاع او د هغې فکر قایم کړي، چې دا د عمومي مصالحو د تامین لپاره ترسره کوي، دغه نوعه موسسه په ۱۷۹۰ میلادي کال کې په فرانسه کې رامنځته شوه چې مهم ممیزات یې دا دي چې قضات کولای شي چې د عامه حق پورې تړلې دعواوي تحریک کړي پرته له ادعا څخه د شخصي او په اخبار بنا معلوماتو په اساس تر څو ټولنه سلامته شي او همدارنګه د جزایي محکمې حکم معتبرنه ګڼل کیږي تر څو پورې چې نیابة العماه پکې تمثیل شوي نه وي. دا نوی فکر نن ورځ په عربي نړۍ کې هم پراخ شوي ده او د مسلمانانو عرف هم ګرځیدلی ده، دا چې په اسلام کې ولې معتبر ده؟ او موجبه اسباب یې څه دي؟ پدې هلکه استاد فارس الخواری وایي چې الله تعالي په قران کریم کې فرمایلي دي:

---

[49]. محمد مصطفی نیازي (۱۳۹۴) د اسلام قضایي نظام، ژباړه محمد قریب ادیب اساس، قرطبه خپروندیه ټولنه،ص۱۲.

[50]. قرآن کریم، [الحجرات،ایة ۶]

[51]. قرآن کریم، [المائده ، الایة ۲۲]

(c) ketabton.com: The Digital Library

«مِنْ أَجْلِ ذلِكَ كَتَبْنا عَلى بَني إِسْرائيلَ أَنَّهُ مَنْ قَتَلَ نَفْساً بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّما قَتَلَ النَّاسَ جَميعاً وَ مَنْ أَحْياها فَكَأَنَّما أَحْيَا النَّاسَ جَميعاً وَ لَقَدْ جاءَتْهُمْ رُسُلُنا بِالْبَيِّناتِ ثُمَّ إِنَّ كَثيراً مِنْهُمْ بَعْدَ ذلِكَ فِي الْأَرْضِ لَمُسْرِفُونَ» [52]

ژباړه:له همدې امله مونږ پر بنئ اسرائیلو دا فرمان لیکلی ؤ: چا چې یو انسان د وینې له بدلې او یا په ځمکه کښې له فساد خورولو پرته (په ناحقه) وواژه، داسې وګڼه لکه چې هغه ټول انسانان ووژل او چا چې څوک له مرګه وژغوره، داسې وګڼه لکه چې هغه ټولو انسانانو ته ژوند ور وبښه. خو د هغو حال دا ده چې زمونږ پیغمبران پرله پسې له روښانه ځرګندو لارښودونو سره ورته راغلل، سره لدې هم د هغوي زیاتره کسان په ځمکه کښې زیاتي کوونکي دي.

د پورتني ایت په اړه ډېر مولفین په جزايي حقوق کې د نیابة العامه یا څارنوالی اطلاق ور باندې کوي. او وایي چې که داسې تصور وشي چې سړی پورته شوي ټول خلک وژني، پس څوک خلک ژغوري او یا یې صنع کوي؟ پدې کې نشته چې دوي ټول وژل کیږي ولې یواځې نایب العام ده چې په قتل کې متولی دي. دي وایي چې په دې اړه کوم واضح نص نه ترسترګو ګیږي چې فقهاو د نیابة العامه په اړه موندلی وي او بحث پرې کړی وي بلکې دا په نویو قوانینو کې د نائب العام د عنوان په حیث قبوله شوي ده.

دا چې په پورته ټولو ایاتونو کې او تفسیرونو کې په تحقیق او دقیقې څیړنې باندې ټینګار شوي ده او دا کار نن ورځ په اکثره اسلامي او غیر اسلامي ممالکو کې څارنوالۍ کوي، نو دا مهمه موضوع ده او اسلام کې د منع په اړه کوم صریح نص شتون نلري. بله دا چې د څارنوال او څارنوالۍ لپاره لازمي شروط، صفات او دندې د احتساب د دیوان سره تر یوه حده ورته والی لري، او هغه دا چې څارنوال باید په اسلامي ټولنه کې په فقه او دین کې پوهه ولري، ماموراټ(په څه چې امر شوي ده) او منهیات(له څه چې نهي او منعه راغلي ده) وپیژني، د ښو او بدو، مجرمیت او عدم مجرمیت د پیژندلو په اړه معیار باید کتاب الله او سنت رسول الله(ص) وکاروي، نرم مزاجه، د ښې وینا، ښې رویې او غوره اخلاقو څښتن به وي، لکه چې یو کس د مامون رشید مجلس ته حاضر شو او هغه ته یې ډیرې سختې خبرې وکړي او په سخته لهجه ورته نصیحت وکړ په ښو خبرو امر او له بدو یې منع کړ. نو مامون الرشید په ځواب کې وویل : اې سړیه الله تعالی خپل خوږ پیغمبر(ص) ته چې له تا ډیر بهتر دی د هغو بدو خلکو چې له ما ډیر بدتر دي د ښې رویې او نرمې لهجې توصیه کوي.

الله تعالی فرمایي:« فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَىٰ». [53]

ژباړه: پس ووایئ ده ته خبره پسته او نرمه ښایي چې دي پند واخلي او یا وویږي له الله جل شانه څخه.

نو بیا مامون الرشید له هغه سړي مخ واړوه او هیڅ توجه ورته ونکړه ځکه انسان چې کوم مقصد په نرمي سره لاسته راوړي هغه اکثره په سختي سره نشي حاصلوی لکه چې پدې هلکه پیغمبر ص فرمایي:

(ان االله رفیق یحب الرفق و یعطی الرفق مالا یعطی علی العنف). [54]

ژباړه: الله تعالي نرمي کووونکی ده او نرم مزاجې خوښوي او په نرمي کې چې کوم انعامات ورکوي هغه په سختۍ نه ورکوي.

---

[52]. قرآن کریم، [المائده ، الایة ۳۲]

[53]. القرانکریم،[سورة طه ایة ۴۴]

[54]. صحیح المسلم، مسلم بن حجاج القشیري(۲۶۱هـ ق).نشر آرام باغ کرانشي،جلد ۱،ص ۴۲۲،کتاب البر باب الفضل الرفق.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه څارنوال او محقق به د عامه کارونو څارنه کوي او د خلکو مال ته د توقع او رشوت اخيستنې څخه ځان ساتي او د خلکو څخه به تحايف نه قبلوي ځکه چې دا هم رشوت کې حسابيږي چې په دې اړه رسول الله ص فرمايي:( لعن الله الراشی و المرتشی).[55]

ژباړه: د الله تعالي لعنت دې وي په رشوت اخيستونکي او رشوت ورکوونکی باندې.

نو معلوميږي هغه څوک چې د لمړي ځل لپاره يې په اسلام کې د احتساب او تحقيق ارګان د رامنځته کولو هڅې کړي دي هغه د اسلام ستر لارښود او پيشوا سيدنا سرور کائنات محمد رسوال الله (ص) وه. هغه دا چې کله د حذيمي قبيلې خلک مسلمانانو ته تسليم شوه، نو د وليد کورنۍ لخوا پدې پلمه چې تسليمي او کلمه ويل يې د ويرې له امله وه ووژل، چې له دې واقع څخه پيغمبر (ص) خبر شو نو سخت خفه شو او پدې نوم چې دا ټولنه دی او تخلف د حق الله په جق کې صورت مونډلی دی نو د خالد بن وليد (رض) کورنۍ ددې کار په بدل کې د حذيمي قبيلې ته د وژل شويو کسانو په سر ديت ورکړ او د هغوي له حقوقو څخه ساتنه او دفاع وکړه.[56]

په دوهم قدم کې چې د تحقيق (څارنوالي) چارو ته توجه شوي هغه د عمر (رض) د خلاف دور وه چې نوموړي د خپل خلافت پر مهال د ټولنې او مظلومانو له حقوقو څخه د دفاع په موخه او د شريعت د احکامو د درست تطبيق په هدف زياتې هڅې او کوښښونه کړي دي چې ځينې يې د بيلګې په توګه لاندې ډول واضح کوو:

کله چې د مصر والي عمرو بن االعاس (رض) د زوي او د يو قبطي د زوي ترمنځ لوبه کيږي، چې د قبطيي زوي لوبه ګټي چې د لوبې په ګټلو سره د عمرو بن العاس زوي ته غوصه ورځې او د قبطی زوي په وهلو او ټکولو پيل کوي او سپکې سپورې هم ورته واي. کله چې بيا قطبي له خپل زوي سره د حج د ادا کولو لپاره بيت الله شريف ته ځي نو عمر (رض) ته په دې هکله شکايت کوي چې عمر (رض) وروسته له تحقيق او څيړنې د عمر بن العاس (رض) زوي د قبطي د زوي په مقابل کې قصاص کوي.[57]

بل دا چې په دې محاکماتي سيستم کې هم قضات د قضاياو په څيړلو کې له زيات واک څخه برخورداره دي او همدارنګه د رسيدګي په اسلامي نظام کې متهم خپلواکي لري چې له خپل ځان څخه دفاع وکړي او ترفينود قضيي د قاضي په وړاندې مساوي حقوق لري.

د پورته ځانګړنو علاوه د رسيدګي اسلامي محاکماتي سيستم د يو شمير نورو خاصو ځانګړونو او اصلاحاتو درلودونکی ده چې زياته انساني جنبه او د تورن حقوق په ځان کې رانغاړي. پدې معنی چې دا محاکماتي سيستم هم د فرد(تورن) او هم د ټولنې حقوق رعايت کوي. دا ځکه چې څارنوال معمولا په حق الله دعواوو کې شتون لري او معمولا حق الله دعواوي په متهمينو باندې اقامه کوي، او د حق الله دعواوي د ټولنې حق دي چې په همدې دليل ددې حق په تعريف کې فقهاء وايي چې حق الله هغه حق ده چې عمومي منافع په هغه پورې تعلق پيداکوي پرته لدې چې کوم ځانګړي شخص ته انتساب پيداکړي، په همدې دليل چې د زيات اهميت، شاملو او پراخو ګټو درودونکي ده، نو د ټولو خلکو خالق

---

55. تاج محمد تمکين( ١٣٩٩ ).څارنوالی او رول په جزايي دعوه کې،ننګرهار پوهنتون، حقوق پوهنځی،ماسترۍ تيزس دفاع،ص ٥٣.

56. (۴۴) ګڼه لمنليک ته دې مراجعه وشي،محمد اشرف رسولي،ص ١٣، ٢٠.

57. (۵۵) ګڼه لمنليک ته دې مراجعه وشي، تاج محمد تمکين، ماسټري تيزس،ص ۵۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پروردګار ته منسوب کيږي، ددې ډول حق ساقط کول جايز ندي او څوک له دې ډول حق صرف نظر کولاي نشي، ځکه چې د حقوق پوهانو په نزد دا ډول حقوق عمومي حقوق بلل کيږي.[58]

همدارنګه د څارنوالی په اړه داسې معلوميږي چې سکوتي اجماع او د مجتهدينو اجتهاد هم شتون لري، هغه دا چې کله څارنوالی د قضائيه قوې په چوکاټ او بهر د کمکي ارګان په توګه له فرانسې اسلامي نړۍ ته خپره شوه نو علماو يې په رد کې نه فتوی صادره کړه او نه هم ددې د مشروعيت په اړه ښکاره اجماع ترسره کړی.[59]

د اسلام محاکماتي سيستم د برسې له مخې دې پايلې ته رسيږو چې مخکې لدې چې اروپايي او يا هم مخکيني تمدنونو د قضاياو د رسيدګي لپاره آو په ځانګړي ډول په جزايي امورو کې يو روش خپل کړی د اسلام مقدس دين کې ځانګړي روشونه په نظر کې نيول شوي وه، چې په هغه کې يو شمير خاص قواعد او سلسله مراتب موجود وه چې نوموړي روشنه ډير ساده خو کامل او هر اړخيز وه، دا روشونه نه له رومي قواعدو څخه اخيستل شوي وه او نه هم د يونان له حقوقو څخه.[60]

**لمړي مطلب: د اسلامي محاکماتي سيستم ځانګړتياوي**

د اسلامي محاکماتي سيستم ځارنګړتياوي او له نورو محاکماتي سيستمونو سره توپير په لاندې ډول سره ذکر کوو.[61]

لمړي-د رسيدګي د يو مرحله ايز اصل له نظره: د رسيدګي په اسلامي محاکماتي سيستم کې اصل دا ده چې قضايا په محکمه کې په يو پړاو کې حل او فصل کيږي. يعني هغه حکم چې د واکمنې محکمې له خوا صادريږي قطعي بلل کيږي اود استيناف خواهي، تميز خواهي او تجديد نظر وړ نه دي په معنی دا چې څارنوال او تورن د شکايت کولو حق نلري. دا ځکه چې د پريکړه کوونکي قاضي لپاره اسلامي فقهاوو شرايط ټاکلي چې مهم يې اجتهاد او عدالت ده نو د شرايطو درلودو يره د قاضي په پريکړه بيا ځلې تجديد نظر نه ترسره کيږي مګر په ځينو خاصو حالتونو کې چې د فقهي قواعدو له نظره د تجديد وړ وي.

دوهم-د قاضي يووالي د اصل له نظره: د اسلام په حقوقي محاکماتي سيستم کې دا اصل ده چې قضاياوي د واحد قاضي لخوا حل او د رسيدګي لاندې وي، دا ځکه چې دا قاضي د امورو د رسيدګي صلاحيت لري او دې ته اړتيا نشته چې يو قضيه يوه ډله قضات تر رسيدګي لاندې ونيسي.بله دا چې د صالح قاضي شتون په يوه قضيه کې بسنه کوي.

دريېم-د قاضي ټاکنه او عزل کول: کوم مقررات چې په اسلامي محاکماتي سيستم کې د قاضي د ټاکلو او عزل کولو لپاره ټاکل شوي ده د نورو محاکماتي سيستمونو عمومي مقررات سره يو شان دي لکه، قاضي بايد اخلاقي فساد باندې اخته نه وي، په جرم محکوم شوي نه وي، د حقوقو ليسانس ولري او نور. خو بيا ځيني خصوصي مقررات د قاضي لپاره په اسلامي محاکماتي نظام کې الزامي دي. د اسلام په اوايلو کې ځينو فقهاوودغه شرايط ۲۷ داني د قاضي لپاره ښودلي وه چې د ۱۲ شرايطو درلود واجب او د ۱۵ شرايطو لرل مستحب دي.

[58]. پورتني ماخذ، تاج محمد تمکين، ماسټري تيزس،ص ۵۵.

[59]. پورتني ماخذ ، تاج محمد تمکين، ماسټري تيزس،ص ۵۵.

[60]. (۴۴) ګنه لمنليک ته دې مراجعه وشي،محمد اشرف رسولي،ص ۵۱، ۵۲.

[61]. (۴۶) ګنه لمنليک ته دې مراجعه وشي رجب ګلدوست، ص ۳۲ و ۳۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تبصـــــره:

د لمړي ځل لپاره په اوسني بڼه د څارنوالي ارګان د فرانسي په هېواد کې په ۱۷۹۰ م کال کې رامنځته شو او بیا له هغه ځایه د نړۍ نورو هېوادونو ته چې د فرانسې مستعمره وه، چې له دې جملې هېوادونو څخه د اسلامي نړۍ یو شمیر هېوادونو په ځانګړي ډول د مصر هېواد ته یې هم سرایت وکړ، د مصر په هیواد کې د اسماعیل باشا بن ابراهیم بن محمد خدیوي چې په سنا ۱۲۷۹هـ کې واکمن وه مختلط محاکم رامنځته شول. ولې بیا هم څارنوالي یا نیابة العامه د مصر په دارالقضا کې قرار لري او بیله نده.

همدارنګه د عثماني خلافت له زوال څخه وروسته ۱۳۳۵ هـ ق کال غربیان د مسلمانانو په دیارونو باندې مسلط شول، د مسلمانانو افکار، اخلاق، د ژوند مسیرونه او اسلامي نظم یې مختل کړ او دا چاره تر هغه روانه وه تر څو چې مسلمانانو د هغوي افکار او قوانین ومنل همدارنګه د سعودي عربستان محاکم هم چې څلور نوعي(مجلس القضاء علی، محکمه التمییز، المحاکم العامه چې لیکني، د مقر تعین او د ځانګړونو حدود یې د عدلیې وزیر ټاکي ولې فیصلې بیا هم قاضي د فرد په ډول کوي مګر د قتل، رجم او قطع په برخه کې درې ګوني قضا واجب دي او همدارنګه جزایي محاکم دي) لري. او اکثره پریکړي یکې د امام احمد بن حنبل د مذهب سره سمې کیږي او په جزایي محاکمو کې څارنوال نه تر سترګو کیږي.د قضاتو تعداد یکې د وزیراونو د (۲۳۶) رقم ۲۱/۳/۱۳۹۸هـ ق او ۱۷۶ رقم ۱۴/۹/۱۴۰۱هـ ق کلونو صادر شویو قرارونو په اساس شوي چې د تحقیق او تفتیش دننه پر مخ وړي.

زمونږ په هیواد کې هم تر ډیره وخته د تحقیق او تفتیش دنده د عریضې له وړاندې کولو وروسته د قاضي په غاړه وه چې په اوایلو کې دې تحقیقاتو شفاهي بڼه درلوده چې وروسته به د کاغذ پر مخ لیکل کیدي او په پاي کې به قاضي خپلې پریکړي صادرولي وروسته بیا په دولتي تشکیلاتو کې د ولایتونو او ولسوالیو په امنیه قومندانیو په چوکاټ کې د سرکاتب جزا نومونو لاندې (چې لنډ نوم د جزا وه) نوي بستونه رامنځته شو چې دنده یوائې د جرمونو تحقیق وه.

د حکومت د مامورینو د وظیفوي جرم تحقیق به د هر وزارت او ولایت په مرکز کې د مدعي العموم لخوا ترسره کېده چې دا تشکیل د وزارتونو او ولایتونو په چوکاټ کې وه، بلاخره په ۱۳۴۳هـ ل کال کې اساسي قانون له مخې د مدعي العموم(څارنوالی) تر نامه لاندې د جرایمو د تحقیق لپاره رسمي اداره د دولت په تشکیل کې رامنځته شوه، یو کال وروسته یعنې په ۱۳۴۴هـ ل کال کې د څارنوالي د قانون په نامه یو قانون په ۱۴ مادو کې رامنځته شو چې په اساس یې د تحقیق برسیره په محکمه کې د تورن د تعقیب چارې هم دغه ارګان ته وسپارل شوي. او د ۱۳۴۳هـ ل کال د جزایي اجرااتو د قانون په تصویب کېدو سره ددې ارکان دندې او واکونه مشخص شول.د ۱۳۴۳ هم ل کال له اساسي قانون څخه وروسته د ۱۳۵۵هـ ل کال د افغانستان د اسلامي جمهوریت په اساسي قانون کې هم دې ارګان دنده او جوړښت ته توجه شوي وه. او بیا په ټول دورو یعنې ۱۳۵۹هـ ل کال ، ۱۳۶۶هـ ل او ۱۳۷۲هـ ل کال اساسي قوانینو د دې ارګان ایجاد، اړتیا او دندو ته توجه کړي ده، همدارنګه د ۱۳۴۴هـ ل کال د څارنوالی له قانون وروسته بل قانون چې د څارنوالی د تشکیل او واک قانون بلل کیږي، په اتو ۸ فصله او څلویښتو ۴۰ مادو کې تر اوسه پورې نافذ او مرعي لاجرا ده.[62]

[62].(۵۵) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي، تاج محمد تمکین، ماستري تیزس،ص ۵۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درییــــم ځـــــــپرکی

## د څارنوالۍ اوسنۍ وضعیت ته کتنه

په دغه څپرکي کې د څارنوالي په اوسني وضعيت باندې په عمومي توګه بحث ترسره کوو. او ددې لپاره چې د اوسني وضعيت په اړه په کامل ډول پوه شو نو اړوند معلومات مو په يو مبحث يو په مطلب کې رانغاړلي دي تر څو معلومات منظم وي او په معلوماتو پوهيدل اسانه شي .

### لمړی مبحث: د څارنوالي اوسني وضعيت ته کتنه

**لمړی مطلب: په عمومي ډول د څارنوالي اوسني وضعيت ته کتنه**:د افغانستان اسلامي جمهوری دولت د ۱۳۸۲هـ لمريز کال څخه تر ۱۴۰۰هـ لمريز کال د اسد د مياشتې ۲۳ نيټې پورې حاکم وه، چې وروسته له دې نيټې څخه د افغانستان اسلامي آمارت ۱۴۰۰هـ لمريز کال د اسد د مياشتې په ۲۴ نيټې باندې چې د ۲۰۲۱ ميلادي کال د اګسټ مياشتې د ۱۵ نيټې سره سمون خورې افغانستان ونيوه او د دوهم ځل لپاره واک ته ورسيدل. د آسلامي آمارت له لورې د افغانستان نيولو سره سم په ټولو وزارتونو، رياستونو، دولتي او غير دولتي ادارو کې ژور تغيرات رامنځته شول. ځکه هر کله چې اسلامي امارت په افغانستان واک ترلاسه کړ نو په لکونو خلکو هېواد پريښود او نورو هيوادونو ته ګډوال شول، او د هغوي له هيواده وتلو سره سم اړوند دولتي او غير دولتي اداري بې سرپرسته پاتي شوي چې پدې ترڅ کې د افغانستان آسلامي امارت امير المومنين ملا هيبت الله اخوند له لوري نوي ټاکنې وشوي او د وازرتونو او رياستونو لپاره نوي وزيران او ريسان وټاکل شول. چې د افغانستان آسلامي امارت امير المومنين ملا هيبت الله اخوند له لورې مولوي شمس الدين (شريعتي) د افغانستان آسلامي امارت د لوی څارنوال په توګه معرفي او په خپل کار باندې پيل وکړ.

لکه څنګه چې د افغانستان آسلامي امارت مشر امير المومنين ملا هيبت الله اخوند د فرمان په اساس وويل چې ټول هغه اصول، قواعد او قوانين چې د اسلام مبارک دين سره په ټکر کې دي، لغوه دي او نه بايد اړوندي اداري يې تطبيق کړي خو هغه اصول، قواعد او قوانين چې د اسلام مبارک دين سره په ټکر کې نه وي اړوندي اداري د اصولو قواعدو او قوانينو په عملي کولو باندې مکلفي دي، دا چې د څارنوالي ارګان او د څارنوالي اړوند قوانين لا لغوه شوي نه دي، نو اسلامي امارت دې ضمناً يو ډول مشروعيت ورکړی ده.[63]

دا چې په اوسني وضعيت کې د څارنوالۍ بنسټ شتون لري او د له منځه تللو په اړوند يې د آسلامي امارت مشر امير المومنين لخوا کوم ځانګړی فرمان نده صادر شوي، بلکې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت هغه څارنوالان چې له هيواده بهر ندي تللي او لا په هيواد کې ژوند کوي، د تير په څير اوس هم خپلو دندو ته راځي، او خپل معاش ترلاسه کوي. البته د يادوني وړ ده چې ځيني څارنوالان له دندو ګوښه شوي او پر ځای يې نور څارنوالان ټاکل کيږي او ټاکل شوي دي چې د ګوښه کيدو اصلي لامل يې د څارنوالانو په فساد تورن کيدل دي.[64]

د څارنوالي ارګان اوسمهال شتون لري خو فعاليت نه ترسره کوي، بلکې د څارنوالانو دندې د اسلامي آمارت قاضيان او ورسره ځيني پخواني قاضيان ترسره کوي. دا چې ولې اوسمهال څارنوالي فعاليت نلري؟ نو لامل يې د تير اسلامي جمهوريت د څارنوالانو په فساد بندې ککړوالی وه. دا يوه روښانه موضوع ده چې تير حکومت کې څارنوالان خصوصا نظامي څارنوالان له فساده ډک وه، او لدې ارګان

---

[63]. مصاحبه:امر قاري عابد جلالي(۲۱ميزان۱۴۰۱ش، مخامخ).

[64]. مصاحبه:څارنوال محمد ادريس حقاني(۲۶ميزان۱۴۰۱ش، مخامخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځخه خلک ډېر ناخوښ وه. د پیسو په بدلې کې د بې ګناه اشخاصو تورن ثابتول، د بې وسه افرادو حقوق پایمالول، په شتمنو افرادو د دعوې د اقامې ځخه ویره درلودل او د اسلامي آمارت له غړو سره د انسانیت خلاف اعمال ترسره کول، ټول هغه لاملونه وه چې څارنوالي د یو بې عدالته ارګان په توګه معرفي کړه او هغه دنده یې چې په ټولنه کې عدالت تامین کول وه له پامه غورځولی وه، نو ځکه اسلامي امارت ددې ټولو پورته ټکو په نظر کې نیولو سره تر امر ثاني پورې څارنوالي فعالیت ځنډولی ده، او د څارنوالانو دندې اوسمهال د اسلامي امارت قاضیان پر مخ بیایي.[65]

د څارنوالانود ټاکنې پروسه هم د تیر په څیر ده، د څارنوالي په اړوند چې کومو قوانینو پخوا شتون درلوده اوس هم له هماغو قوانینو ځخه استفاده کیږي، اوسمهال د څارنوالانو نوی ټاکنه هم ترسره کیږي، چې د ازموینو اخیستلو پروسه او شرایط یې ټول د پخوا په څیر دي.[66]

د یو دولت په چوکاټ کې د څارنوالي شتون ډېر زیات اړین ځکه د څارنوالي په نشتون کې دعوو ته رسیدګي ډېره ستونزمنه او یا هم ویلای شو چې ناممکنه ده. که څه هم اوسمهال د اسلامي امارت د قاضیانو له لوري دعوو ته رسیدګي ترسره کیږي، خو دا چې د یو ولایت په سطه دعوې ډېرې زیاتې وي، نو قاضیان نشي کولای چې ټولو دعوو ته رسیدګي وکړي ځکه دغه قاضیان به هم د دولت له لورې د دعوې اقامه پر غاړه لري هم به د درېیم ګړي په توګه پریکړه صادروي، چې د یو شخص له لورې د قاضي او د څارنوالانو دندې پرمخ وړل ډېره ستونزمنه خبره ده.[67]

دا چې اوسمهال په قاضیانو باندې کار ډېر زیات او دعوو ته په ټاکلي وخت سره رسیدګي نشي کولای او ډېر تورن افراد بې سرنوشته پاتې کیږي، نو د افغانستان اسلامي امارت ددې لپاره چې د قاضیانو د کار حجم کم شي او د بې سرنوشته افرادو سرنوشت وټاکل شي، د یو ځانګړي کمیسیون په جوړولو باندې بوخت دي، او ددغه کمیسون دنده د بې سرنوشته افرادو سرنوشت ټاکل دي. [68]

څارنوالي بنسټ او د څارنوالانو شتون د یو دولت په اداره کې ډېر اړین ده، ځکه هر کله چې څارنوال مدعي العموم واقع کیږي نو د ټولنې او دولت له حقوقو ځخه دفاع کوي، او قاضي د درېیم ګړي په توګه پریکړه کوي. نو که چیرته قاضي خپله په یوه قضیه کې تحقیق وکړي او د دعوې د یو لوري شي او بیرته په همدې قضیه کې پریکړه وکړي نو دلته د شخصي اغراضو موجودیت پیښیږي، او ټولنه د قاضي په پریکړه شکمن کیږي. همدارنګه کله چې د څارنوالانو له لوري د یوې قضیې تحقیق او تعقیب ترسره کیږي نو له څو پړاوونو ځخه تیریږي چې د اشتباه او غلطي امکان پکې کم وي او تحقیق په ښه شکل سره ترسره کیږي، خو که چیرته قاضي هم پریکړه کوي او هم تحقیق ترسره کوي نو دا چې انسان ضعیف ده نو په تحقیق او پریکړه کې د اشتباه امکانات زیات وي.[69]

د څارنوالي شتون د دعوو رسیدګي او د عدالت د تامین لپاره ډېر اړین ده. که چیرته څارنوالي شتون ونلري، نو دعواو رسیدګي به د ځنډ سره مخامخ وي، د عدالت تامین به په ښه شکل نه ترسره کیږي ځکه دعواوي د څو پړاونو پر ځای د یوه پړاو ځخه تیریږي او د اشتباه امکان پکې زیات وي، ډېر افراد به بې سرنوشته پاتې کیږي، او د هغوي د مجرمیت او عدم مجرمیت په اړه پریکړه ډېر په ځنډ سره صادریږي.[70]

---

[65]. مصاحبه:امر محمد همایون عزیزي(۲۹ میزان۱۴۰۱ش، مخامخ)
[66].مستعار نوم ایکس(۲ عقرب۱۴۰۱ش، مخامخ)
[67]. مصاحبه:مدافع وکیل منیر وهاج (۲۵میزان۱۴۰۱،واټس اپ)
[68]. مصاحبه:امر قاري عابد جلالي(۲۱میزان۱۴۰۱ش، مخامخ).
[69]. مصاحبه:مدافع وکیل منیر وهاج (۲۵میزان۱۴۰۱،واټس اپ)
[70]. مصاحبه: څارنوال محمد یعقوب صاحبزی(۱۰ عقرب۱۴۰۱ش، واټس اپ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت کې څارنوالان د ډېر واک څخه برخمن وه، مادي او معنوي امتیازات ورته ورکول کیدل، چې د ملکي څارنوالانو په نسبت د نظامي څارنوالانوامتیازات زیات وه، خو لدې هر څه سره نظامي څارنوالانو خپله ایماني او وجداني دنده په سحې توګه نه ترسره کوله او په فساد او ظلم به اخته کیدل، چې د افغانستان اسلامي امارت هم دې ټکو ته په نظر کې نیولو سره د څارنوالی فعالیت متوقف کړی ده. خو باید د نظامي او ملکي څارنوالانو ترمنځ توپیر وکړل شي او حد اقل ملکي څارنوالانو ته د فعالیت کولو اجازه ورکړل شي ځکه هغوي د نظامي څارنوالانو په پرتله دندو ته ډېر وفادار وه او په احسنه شکل سره خپلې دندې ترسره کولې.همدارنګه په څارنوالي کې او د څارنوالانو لخوا د فساد د مخنیوي لپاره ځانګړي قواعد رامنځته کړل شي، د فساد کولو لارې وتړل شي او د فساد مخنیوي مدیریت کړل شي.[71]

په اوسني وضعیت کې د افغانستان اسلامي امارت ته پکار ده چې د یو منظم پلان سره سم د څارنوالي ارګان د فعالیت اجازه ورکړي تر څو په محاکمو د کار حجم کم کړل شي تر څو د افغانستان اسلامي امارت قاضیانو له لوري دعوي ته رسیدګي په ټاکلي وخت سره ترسره شي، همدارنګه د تورنو افرادو د بې سرنوشتي مخنیوي وکړل شي. څارنوالي د یو دولت په اډانه کې ډېر اړین ارګان ده چې هم د دولت له حقوقو د متهم په وړاندې او هم د متهم حقوق د دولت په وړاندې حمایه کوي. همدارنګه دعوو ته په ښه شکل سره د رسیدګي لپاره یواځیني لار د څارنوالي د ارګان شتون ده.[72]

[71].مصاحبه: څارنوال محمد یعقوب صاحبزی(۱۰ عقرب۱۴۰۱ش، واټس اپ)
[72].مصاحبه: څارنوال مطیع الله عظیمي(۱۵عقرب۱۴۰۱ش، مخامخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پـــــايـله

۱- څارنوالی یو تحقیقي ارګان ده چې د مظنون د خلاف تورن پانه، او د تورن خلاف صورت دعوي ترتیبوي او د جزايي دعوي په ټولو مراحلو کې د ټولنې د نماینده (مدعـي العموم) په ډول د جرم د مرتکب په وړاندې د جنايي عدالت د غوره تامین په موخه دعوي مخ ته وړي.

۲- څارنوالي د یو دولت په اداره کې ډیر اړین ارګان ده چې هم د دولت له حقوقو د متهم په وړاندې او هم د متهم حقوق د دولت په وړاندې حمایه کوي. همدارنګه دعوو ته په ښه شکل سره د رسیدګي لپاره یواځینې لار د څارنوالي د ارګان شتون ده.

۳- د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې جزايي قضایاو ته د رسیدګي لپاره مختلف محاکماتي سیستمونه شتون لري چې لدې څلور محاکماتي سیستمونو له جملې څخه د اسلام محاکماتي سیستم کې څارنوالي له ځانګړی رول څخه برخمنه ده.

۴- څارنوالي په اوسمهال کې (افغانستان اسلامي امارت دوهمه دوره) شتون لري، کاملا له منځه نده تللی خو عملاً فعالیت نلري، او اصلي لامل یې د تیرو څارنوالانو د پیسو په بدلې کې د بې ګناه اشخاصو تورن ثابتول، د بې وسه افرادو حقوق پایمالول، په شتمنو افرادو د دعوي د اقامې څخه ویره درلودل او د اسلامي آمارت له غړو سره د انسانیت خلاف اعمال ترسره کول، ټول هغه لاملونه وه چې څارنوالي د یو بې عدالته ارګان په توګه معرفي کړه او هغه دنده یې چې په ټولنه کې عدالت تامین کول وه له پامه غورځولی وه، نو ځکه اسلامي امارت تر امر ثاني پورې څارنوالي فعالیت ځنډولی ده.

۵- په اوسني وضعیت کې د افغانستان اسلامي امارت ته باید ده چې د یو منظم پلان سره سم د څارنوالي ارګان د فعالیت اجازه ورکړي تر څو په محاکمو د کار حجم کم کړل شي او د قاضیانو له لوري دعوي ته رسیدګي په ټاکلي وخت سره ترسره شي، همدارنګه د تورنو افرادو د بې سرنوشتي مخنیوي وکړل شي. څارنوالي د یو دولت په اداره کې ډیر اړین ارګان ده چې هم د دولت له حقوقو د متهم په وړاندې او هم د متهم حقوق د دولت په وړاندې حمایه کوي. همدارنګه دعوو ته په ښه شکل سره د رسیدګي لپاره یواځینې لار د څارنوالي د ارګان شتون ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وړانــــــدیزونه

۱-د افغانستان اسلامي امارت ته پکار ده چې د څارنوالي بیا ځلي فعالیت اجازه ورکړي تر څو دعوي ته رسیدګي په ټاکلي وخت سره ترسره شي او د افرادو د بې سرنوشتي مخنیوي وکړل شي.

۲- د افغانستان اسلامي امارت باید یو منظم پلان ترتیب کړي چې د افغانستان جمهوري دولت په څیر د نظامي څارنوالانو له لورې فساد ترسره نشي او بې ګناه افراد مجازات نه کړل شي.

۳- څومره چې ژر کیدای شي په کابینه کې د څارنوالي موضوع مطره شي او د فعالیت اجازه ورکړل ځکه د عدالت د تامین لپاره د څارنوالي شتون ډیر اړین ده.

۴-څارنوالي ته عام او تام صلاحیت او استقلال ورکول تر څو چې د څارنوالي ارګان بیرته د کوم بل ارګان له فشار او مداخلې څخه خپلې دندې په مستقله توګه پرمخ یوسي.

۵-د نظامي او ملکي څارنوالانو د فعالیت ترسره کولو او اسخدام کولو لپاره معلوم قواعدو او قانون وضع کړل شي، تر څو د څارنوالانو د فعالیتونو د بې نظمي څخه مخنیوي وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مـــــــــــاخذونه


1. القران الكريم.
2. اخلاق حقوقي در عمل (اخلاق و سلوک مسلکي).تمويل کننده: اداره حاکميت قانون و مبارزه با مواد مخدر بين المللي، وزرات خارجه امريکا(INL)و تطبيق کننده،بنياد آسيا.
3. تمکين، تاج محمد ( ۱۳۹۹). څارنوالۍ او رول په جزايي دعوه کې، ننګرهار پوهنتون، حقوق پوهنځی، ماستري تيزس دفاع.
4. جويباري، رجب گلدوست (۱۳۹۱). کليات آئين دادرسی کيفری، انتشارت جنگل جاودانه، چاپ دهم.
5. دانش، سرور(۱۳۹۴). حقوق اساسي افغانستان، کابل:انتشارات دانشگاه ابن سينا، چاپ سوم.
6. دانش، حفيظ الله (۱۴۰۰). د جزاي محاکماتو اصول، کابل، نوی مستقبل خپرندويه ټولنه.
7. د افغانستان اساسي قانون(۱۳۶۶)هـ کال. رسمي جريده،۱۵۶ گڼه.
8. د افغانستان اساسي قانون(۱۳۴۳)هـ کال،رسمي جريده.
9. د افغانستان اساسي قانون(۱۳۶۳)هـ کال، رسمي جريده.
10. د افغانستان اساسي قانون(۱۳۵۵)هـ کال.رسمي جريده.
11. د افغانستان اسلامي آمارت،(۱۴۱۹)هـ کال.۱۰۹گڼه فرمان،۲ ماده،دويم بند.
12. د افغانستان اساسي قانون(۱۳۸۲).۸۱۸ رسمي جريده، کابل دولتي مطبعه.
13. د افغانستان جزايي اجراآتو قانون(۱۳۹۳).۱۱۳۲رسمي جريده.
14. د افغانستان د څارنوالي د واک او تشکيل قانون(۱۳۹۲).۸۴۳ رسمي جريده.
15. رسولي، محمد اشرف (۱۳۹۷). اصول محاکمات جزايي، کابل، انتشارات سعيد.
16. صحيح المسلم، مسلم بن حجاج القشيري (۲۶۱هـ ق). نشر آرام باغ کرانشي، کتاب البر باب الفضل الرفق.
17. عميد حسن (۱۳۸۵). فرهنگ عميد فارسي، موسسه انتشارات کبير، تهران ميدان استقلال.
18. نيازي، محمد مصطفی (۱۳۹۴) د اسلام قضايي نظام، ژباړه محمد قريب اديب اساس، قرطبه خپرونديه ټولنه.
19. IL_F بنياد بين المللی حقوقی افغانستان (۱۳۹۷).مباحث عمومی وکالت دفاع برای کلينيک های حقوقی بنياد،ديپارتمنت تعليمات بين المللی حقوقی،کابل.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**